# پښتو ګرامر

## (ژب ښودنه)

لیکوال:
صدیق الله رشتین

# پښتو ګرامر

## ( ژب ښودنه )

لیکوال:
صدیق الله رشتین

PROPERTY OF ARIC Established 1989
PROPERTY OF ACKU 11325

الازهر خپرندویه مؤسسه

د کتاب پېژنده

# پښتو ګرامر

## ( ژب ښودنه )

لیکوال: صدیق الله رښتین
چاپ شمیر: زر ټوکه
چاپنیټه: مني ۱۳۸۲
کمپوزر: سید سلیمان هاشمي

**خپرونکی: الازهر خپرندویه مؤسسه**

پته: قصه خواني پوست بکس ٤٦٣ پېښور
ټیلفون: 091-2564414
alazharco@homtilal.com

د چاپ ټول حقوق خوندي دي!

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرّحمن الرّحیم

PROPERTY OF ACKU 11325

# سریزه

وایی چې روغ عقل په روغ بدن کې وی او د روغ بدن د پیدا کیدو د پاره د روغتیا په لیارو چاروسم تګ او یون په کار دی. دغه شان د یوې ژبې د خوږوالی او لوړوالی د پاره د ژبنیو پوهنو زده کړه، ډیره ضروری او لازمی ده.

په تیره ژب دود یعنی د ژبې د قاعدو او لیارو پیژندنه د ژبې د ودانۍ د اساس او بنسټ مثال لری. که دغه بنسټ کلک او پوخ وی، نو د ژبې مانۍ هم کلکه او پخه راشی او که اوم او بې کاره وی، نو ژبه هم اومه او بې خونده پاتې کیږی.

دا وجه ده چې ما همیشه دې خواته زیات پام ګرځولی دی او د ژب دود په سلسله کې مې څو کتابونه لیکلی دی. د دې لړۍ لومړی کتاب د پښتو کلی د شپږم سمستر په نامه چاپ شوی دی. بل کتاب د پښتو لومړی لیار ښوونکی نومیږی. دغه دواړه کتابونه درسی دی او د پښتو په کورسونو کی ویل کیږی.

بل اثر د پښتو لوی ګرامر دی چې په پارسی لیکل شوی دی او یو

عمومي اکاډميک گرامر دی. دا نوی اثر چې د پښتو مينانو دمينې غيرې ته وړاندې کيږی، دهمدغې سلسلې يوه نوې کړی ده. دا کتاب دژب ښودنې په نامه ليکل شوی دی. لومړی برخه يې ژب دود، يعنې گرامري ښوونه ده. بله برخه د «ليک دود» او دريمه برخه يې د «ليک ښود» په نامه ده، چې دنويو ليکوالو دپاره سودمنې لارښودنې لري. په سريزه کې مردې زيات ته او خارنه بې ضرورته ښکاری، نو ښه به داوی چې لوستونکی په خپله د کتاب په لوستلو خپله تنده ماته کړی او مزه او فايده يې وگوری.

صديق الله «رشتين»

# لومړی برخه

## ژب دود

## پښتو الفبا

۱ – د پښتو ژبې دالفبې غړونه او توری دیرش او په دې ډول دي:

ا، ب، پ، ټ، ج، چ، ځ، څ، ح، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، گ، ل، م، ن، ڼ، ه، ی.

په دغو تورو کې (۲۲) توری د پښتو او فارسي تر منځ شریک دي او نور، اته یوازې په پښتو کې راځي او په فارسي کې نه راځي او هغه دادي:

ټ، ډ، ړ، ځ، څ، ږ، ښ، ڼ.

۲ – د پښتو په دیرشو تورو کې (۲٦) توری، چوپ توری، دي او څلور (٤) توری کومکي توری یا غږیز توري دي.

د پښتو غږیز توری دادي:

(ا، و، ه، ی).

۳ – په پښتو کې د عربي ژبې دغه لس توری هم په مستعار ډول په عربي کلمو کې استعمالیږي:

(ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق).

مگر د پښتو په کلمو کې دغه توری نه راځي او که په کومه کلمه کې راشي، نو هغه به اصلاً پښتو نه دي. په کلمو کې د پښتو دالفبې د نورو مثالونه دا دي:

اس، باغ، پلار، تود، ټولگی، جامې، چوکۍ، څراغ، ختیکی، ځمکه، دیوال، ډوډۍ، رڼا، ړوند، زنه، ژبه، ږلۍ، سترگه، شپه، ښځه، کور، کوټه، لاس، مخ، نوم، کوڼ، ونه، هاک، یرغل.

# کومکي غږونه

٤- کومکي غږونه په پښتو کې پر دوه ډوله دي:

یو ډول یې خوځندې (حرکتونه) او بل ډول یې توري دي.

موږ ټول اصلي توري د دغو غږونو په کومک او مرسته وایو، ولې چې اصلي یا چوپ توري بې د کومکي غږونو له مرستې نه ویل کیږي. په پښتو کې دغه وروسته خوځندي موجود دي:

الف- زور لکه: ور، غر، غږ.

ب- زور ږکه: شل، وچ، مچ.

ج- زیر: دا خوځندي اوس د پښتو کلمو په سر کې نه راځي او په دخیلو کلمو کې استعمالیږي. لکه: گل، بل، عالم.

د- پیښ: دا خوځندي هم د پارسي او عربي په دخیلو کلمو کې راځي. لکه: مل، تجاهل.

٥- په پښتو کې کله کله په یو نیم حرکت باندې د آواز زیات فشار او زور راځي، چې هغه ته خج (اکسنټ) وایي.

دخج په راتلو د یوې کلمې معنې له بلې څخه توپیر پیدا کوي. ږکه: غوټه.

که د آواز زور په اوله څپه یعنې (غ) راشي، د «گره» معنی ورکوي او که په دوهمه څپه، یعنی «ټ» راشي، نو د غوټه معنی لري.

یا لکه (بډ) که خج په «ب» راشي، د رنگ معنی ورکوي او که په

«ڼ» راشي، د پر مرغ معنی لري.

٦- غږوندي (سکون) په پښتو کې دغه وروسته قاعدې لري:

الف: په پښتو کې په ساکن توري باندې پيل کول، روا دي او د نيم حرکت په ډول ويل کيږي. لکه:

سپوږمی، لمر، پسرلی، ښښه.

ب: په پښتو کې تر درې ساکنو پورې هم يو ځای راتلای شي، مګر په دې شرط چې لومړی ساکن يې يو کومکی توری وي. لکه: مياشت، څلويښت، پنځوس.

# کومکی توري

په پښتو کې کومکی توري څلور دی، مگر هغه وخت کومکی توري گڼل کیږی، چې ساکن وی او دمخه تري بل کومکی توري نه وی. دغه توري به وروسته ډول دی:

۷- (۱) د کلمې په منځ او آخر کې راځی. لکه: کال، لار، اکا، انا.

۸- و- واو په پښتو کې په څلور ډوله دی:

الف- نرم واو (۱) چې پوست او نرم ویل کیږی او دمخه توري یې زور لري. لکه: پلو، لو، کنډو.

ب- څرگند واو، چې دمخه توري یې څرگند او د روند پیښ لري.

لکه: کچالو، چاکو، تالو.

ج- اوږد واو، چې اوږد نرم ویل کیږی او دمخه توري یې اوږد پیښ لري. لکه: پښتو، زانگو، پیشو، اور، کور، خور او مور.

د- کوچنی واو، چې دمخه یې سبک لنډ پیښ وی.

لکه: لومړی، تاسو، وشو، پوښتنه.

۹- ی- یا په پښتو کې پر پنځه ډوله ده.

اول- نرمه «ی»، چې پسته ویل کیږی او دمخه توري یې زور لري.

لکه: سړی، منگی، اوړی، منی، ژمی، سیل.

---

(۱) - دې واو ته پخوا مجهول واو ویل کیده، مگر دا نوم ورسره سمون نه خوری، ځکه چې دغه واو پښتنو ته معلوم دی، خو عربو ته معلوم نه ؤ.

ب- څرګند «ی» چې د مخه توری یې درووند او څرګند زیر لري.
لکه: دوستی، ښادی، شین، سپین، څیر.
ج- زورکی واله (ئ)، چې د مخه توری یې زورکی لري او یوازې دکلمې په پای کې راځي.
لکه: هګئ، خولئ، کړکئ، نجلئ.
د- اوږده «ې»، چې اوږده ویل کیږي او د مخه توری یې اوږد زیر لري.
لکه: منې، شودې، کوتې، پخې.
هـ- کوچنی «ي»، چې د مخه یې سبک لنډ زیر وي.
لکه: باندې، پاتې.
۱۰- «ه» - په پښتو کې دوه ډوله ده.
الف: څرګنده او لویه (هـ)، چې د مخه توری یې زور لري.
لکه: پیاله، چوغکه، پوزه، کوټه، شونډه.
ب- پټه او کوچنۍ «ه» چې د مخه توری یې زور لري.
لکه: پسه، نیکه، اوړه، زړه.

# د کلمې قسمونه یا د کلام توکی

۱۱- هغه لفظ چې د یوې معنې او مقصد د پاره له خولې څخه وځی کلمه بلل کیږی. په بل عبارت کلمه یو معنې دار لفظ ته وایی.

موږ د دی مقصد د پوره څرگندولو د پاره اړ یو چې څو کلمې سره یو ځای کړو، د کلمو له یو ځای کولو څخه کلام او جمله جوړیږی.

۱۲- په پښتو کې د کلمې قسمونه یا د کلام توکی په وروسته ډول دی:

۱- کوم چې د یو شی یا د یو کیفیت او حالت نوم وی.

لکه: لمر، زوی، ورور، چرگ، ویره، پوهه، فکر.

۲- ضمیر، چې د اختصار او لنډیز په غرض د نوم پر ځای ویل کیږی.

لکه: زه، نه، دی، دا.

۳- صفت: هغه کلمه ده چې د یو نوم، حالت او څرنگوالې بیانوی.

لکه: تور، تږول، لږ، ډیر، خوږ، سوړ، موړ.

٤- فعل: هغې کلمې ته وایی، چې په یوه زمانه کې پر یو کار او عمل باندې دلالت کوی.

لکه: ځم، کښینم، واخیست، وخوړ، وبه وایم، وبه ښنبم.

٥- قید: هغې کلمې ته وایی، چې د فعل یا صفت د پاره د قید او تمیز په ډول استعمالیږی.

لکه: ژر ژر، ورو ورو، نن، پرون.

٦- ادات یا توری، هغه چې خپلواکه معنې نه لری او د فعلونو او نومونو سره د یوې معنې د پاره استعمالیږی. ادات یا توری بلل کیږی.

لکه: (له، د، ته، سر، تر، به، کې) او نور.

# د مفهوم له مخه د نوم قسمونه

۱۳- نوم دمفهوم او معنې له مخې په پنځه ډوله دی:

۱- خاص نوم چې يو خاص سړی، يا يو خاص شی معرفي کوی.

لکه: احمد شاه بابا، رحمان بابا، کابل، افغانستان.

۲- عام نوم، هغه دی، چې يو خاص سړی يا شی ترې، نه مراد يږی بلکې پر ځينو افرادو يو شان دلالت کوی.

لکه: سړی، لرگی، پاڼه، غوښه، هنداره.

دظرف نوم، دتصغير نوم، دصوت نوم، دآلې نوم دا ټول دعام نوم قسمونه دی.

لکه: نندارتون، کورگی، چغهار، مچ شړونی.

۳- دجنس نوم هغه دی، چې په لږو ډيرو باندې يو شان دلالت وکړی.

لکه: اوبه، غوړی، غنم، تيل.

٤- دجمعيت نوم، هغه دی چې په لفظ کې مفرد وی او په معنې کې ديوې ډلې او جمعيت دپاره راځی.

لکه: لښکر، جرگه، رمه، ټولی، اولس.

دجمعيت نوم دډيرو ډلو په لحاظ جمع کيږی.

لکه: جرگې، رمې، اولسونه.

۵- مجرد نوم هغه دی، چې مادی وجود نه لری، يعنې په سترگو نه

لـدل کیږی.

لکه: عقل، پوهه، ویره.

۱٤- نوم دجوړښت په لحاظ پر دوه ډوله دی:

۱- مرکب نوم، چې له دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړ شوی وی.

لکه شیرپور، کندهار، شیرشاه مینه، بریکوټ او نور.

۲- بسیط نوم، چې یوه مفرده کلمه وی او نور توکی نه لری.

لکه: کټ، اور، لاس، سر، زړه.

مرکب نومونه کله په لنډ او مخفف صورت هم راځی.

لکه: ترله= دتره لور. تروږزی= دترور زوی.

# مذکر او مؤنث

۱۵ - ټول نومونه په پښتو کې د کیفیت او جنسیت له مخه پر دوه ډوله دي او په نرینه او ښځینه ویشل کیږي. د غه دواړه قسمه ځینې نښې لري، چې په وروسته ډول ښودل کیږي:

۱۶ - **د نرینه نوم نښې:** کوم نومونه او صفتونه چې په پای کې یې دغه وروسته علامې راشي، مذکر (نرینه) نوم ګڼل کیږي.

۱ - نرمه «ی» لکه: لرګی، منګی، سړی، نوی، وږی، تږی.

۲ - څرګند واو، لکه: تالو، بانړو، چاکو.

۳ - کوچنۍ «ه» لکه: تره، وراره، زړه، نیکه.

٤ - نرم واو، لکه: پلو، لو، کنډو.

۵ - هغه ټول نومونه چې په آخر کې یې اصلي توري راغلي وي او سماعي مؤنث نه وي، مذکر ګڼل کیږي.

لکه: میز، لاس، اور، غل، مل.

**یادونه:** هغه ساکنه «ی» چې د مخه یې ساکن «و» او یا «الف» وي، د اصلي توري حکم لري.

لکه: زوی، سوی، لوی، ځای، چای.

**۱۷ - د مؤنث نښې:** هغه نوم چې په پای کې یې دغه وروسته نښې راغلې وي، مؤنث (ښځینه) نوم ګڼل کیږي.

۱- څرګنده «ه»: لکه: اسپه، لښته، پښه، پوښتنه، توره، سپینه.

۲- زورکۍ واله «ۍ»: لکه: خولۍ، ډوډۍ، څپلۍ، څوکۍ.

۳- الف: ژړا، خندا، نڅا، ملا، شا، ښوروا.

مګر الف د بې سا نومونو په آخر کې د مؤنث علامه ګڼل کیږي.

٤- اوږد واو: لکه: ښارو، زانګو او لامبو.

٥- څرګنده «ی»: لکه: پیاتی، غیچی، دوستی، ښادی، وروری، خوری.

خپلوی مګر په نسبي صفتونو کې څرګنده «ی» د مذکر د پاره راځی.

لکه: دوبی، موچی، ډولی، رباپی.

٦- اوږده «ې»: لکه: ادې، ناوې، ملګرې، تیږې.

# د مونث قسمونه

۱۸- مونث په پښتو کې پر څلور ډوله ویشل کیږي:

۱- حقیقي لفظي (ساکښ، نښبه وال)، هغه دي، چې د یو ساکښ او ذیروح نوم وي او د تانیث نښه هم پکښې وي.

لکه: غوا، چرګه، اسپه.

۲- حقیقي غیر لفظي «ساکښ، بې نښې»، چې د یو ساکښ نوم وي او د تانیث نښه نه لري.

لکه: مور، خور، ترور، نږور، پور. دې قسم ته معنوي مؤنث هم وایي.

۳- غیر حقیقي لفظي «بې سا، نښبه وال»، هغه ته وایي، چې د بې سا شیانو نوم وي او د تانیث علامه په کې وي.

لکه: لښته، پانه، غرمه، کاچوغه، څوکې، رڼا، زانګو، پښتو.

٤- غیر حقیقي غیر لفظي «بې سا، بې نښې»، هغه ته وایي، چې ساشي نوم وي او تانیث نښه هم په کې نه وي.

لکه: لمن، ستن، برستن، میچن، څنګل، منګول، ړمنځ، وریځ، ورځ، میاشت، لار، لویشت، غیږ، چار. دې قسم ته سماعي مونث هم وایي.

دغه قسم مونث نومونه ټول په اصل کې څرګند «ه» لري.

لکه: لمنه، نښبه. تر آخره مګر د «ه» غورځیدل په کې سماعي دي، یعني په محاوره او اوریدو پورې اړه لري. په دې ډول نومو کې اصلي ساکن «نون» چې د مخه ترې زورکی وي، د تانیث نښه بلل کیدای شي.

## مونث جوړونه

۱۹ - په پښتو کښې د مؤنث او مذکر د پيژندنې د پاره دوې لارې موجودې دي:

يوه لار داده چې د مذکر او مؤنث د پاره جلا جلا نومونه ايښودل شوي وي او له يو بل سره په لفظ کې ارتباط نه لري.

لکه : پلار ، مور ، لور ، زيو ، ځلمي ، پيغله ، هلک ، نجلي .

او بله لاره داده چې مؤنث نوم د يوې قاعدې سره سم، له مذکر څخه جوړ شوي وي او په لفظ کې يو تر بله ارتباط لري. دې قسم ته قانوني مؤنث وايي .

۲۰ - د قانوني مؤنث د جوړولو قاعدې په وروسته ډول دي:

۱ - هغه مُذکر نوم چې په آخر کې يې نرمه « ی » وي. که چيرې په اول او منځ کې يې د روند خج نه وي ، د مُذکر « ی » په زور کې واله « ئ » بدليږي او که چيرې په اول کې يې خج راغلی وي ، نو د آخر « ی » يې په اوږده « ې » بدليږي او مؤنث ځنې جوړيږي.

| مُذکر | مؤنث | مُذکر | مؤنث |
|---|---|---|---|
| اول قسم | | دوهم قسم | |
| اوسنی | اوسنئ | ملګری | ملګرې |
| کابلی | کابلئ | وهلی | وهلې |
| کندهاری | کندهارئ | وهونکی | وهونکې |
| ليونی | ليونئ | غلی | غلې |
| نمسی | نمسئ | تږی | تږې |
| پردی | پردئ | وږی | وږې |

۲- هغه نوم او صفت چې په منځ کې يې ساکن «و» او يا «ی» راغلی وی، که جمع لری او په جمع کې يې د منځ کومکی توری يا په الف بدل شوی وی او يا غورزيدلی وی، په مؤنث کې يې د منځ کومکی توری غورزيږی او په آخر کې يې څرگنده «ه» زياتيږی. لکه:

مذکر: سوړ، زوړ، موړ، کوڼ، پوخ، شين.

مؤنث: سړه، مړه، کڼه، پخه، شنه.

۳- هغه نومونه او صفتونه چې په آخر کې يې اصلی توری راغلی وی يوازې د څرگندې «ه» په زياتولو مؤنث کيږی. لکه:

مذکر: چرگ، زرک، زړور، ليکوال.

مؤنث: چرگه، زرکه، زړوره، ليکواله.

**يادگيرنه:** ټول صفات چې جمع نه لری او يا په جمع کې د منځ کومکی توری په الف نه بدليږی، د دغه قانون لاندې راځی، يعنې يوازې په پای کې يې څرگنده «ه» زياتيږی. لکه:

مذکر: تور، ټول، غټ، اوم، اوږد.

مؤنث: توره، ټوله، غټه، اومه، اوږده.

٤- په پښتو کې ځينې شريک صفات هم شته، چی د مُذکر او مؤنث د پاره يو شان راځی او غالباً په آخر کې يې کومکی توری موجود وی.

لکه: ښکاره، خپه، ډاډه، آشنا، يوازې، نژدې، لاهو.

# مفرد او جمع

۲۱ - نوم دشمير او کميت له مخې، پر دوه ډوله دی: مفرد او جمع.

مفرد هغه دی، چې پر يوه شي يا يوه کس باندې دلالت کوي. لکه: هلک، ونه، لرګې. او جمع يې هغه ده چې له يوه نه پر زياتو شيانو او کسانو دلالت کوي. لکه: هلکان، ونې، لرګي.

په پښتو کې تولې جمعې له مفرد څخه د ځينو علامو په راوړلو جوړيږي.

د نارينه جمعو علامې دادي:

(ي، ه، ګان، اه، يان، ان، ونه). او د ښځينه جمعو علامې دادي: (ې، ی، ګانې، وې). د نارينه جمعو دجوړولو قاعدې په وروسته ډول بيانيږي:

۱ - هر مفرد نوم او صفت چې په پای کې يې نرمه «ي» راغلې وي، په جمع کې دغه «ي» په څرګنده «ی» بدليږي.

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ستوري | ستوری | پلي | پلی |
| نوي | نوی | اغزي | اغزی |
| لوښي | لوښی | لرګي | لرګی |
| پروني | پرونی | | |

**يادونه:** په دې قسم نومونو کې ساکښ نومونه يا صفتونه او نسبتي ساکښ صفتونه د مفرد په آخر کې د (آن) په راوړلو هم جمع کيږي. لکه:

**مفرد:** ميږی، غويی، خوريی، ښاپيری، کابلی، کندهاری، سدوزی.

**جمع:** ميږيان، غويان، خوريان، ښاپيريان، کابليان، کندهاريان، سدوزيان.

۲- هر نوم او صفت چې په آخر کې یې ځرګند اصلي واو یا الف یا ځرګنده اصلي «ه» راغلي وي، د «ګان» په راوړلو جمع کیږي. لکه:

**مفرد:** تالو، چاکو، باړخو، بابا، ماما، بوډا، ساده.

**جمع:** تالوګان، چاکوګان، باړخوګان، باباګان، ماماګان، بوډاګان ساد ګان.

**یادګیرنه:** د واو په نومو کې ځینې په «آن» او د «الف» په نومو کې ځینې په «یان» هم جمع کیږي. لکه: مرزایان، اشنایان، ملایان کچالان، شلتالان، کدوان، پټوان، کندوان. (۱)

۳- ساکنې صفات چې په آخر کې یې ځرګنده «ی» یا ځرګند واو راغلي وي، د (ان) په راوړلو جمع کیږي. لکه:

**مفرد:** موچي، دوبي، لاپو، خیټو.

**جمع:** موچیان، دوبیان، لاپوان، خیټوان.

٤- هر صفت چې په منځ کې یې واو یا «ی» راغلي وي او دغه واو او (ی) په مؤنث کې غورځېدلي، نو په جمع کې هغه په الف بدلیږي او په پای کې یې کوچنی «ه» زیاتیږي. لکه:

**مفرد:** پښتون، ړوند، روڼ، تریخ، تریو.

**جمع:** پښتانه، ړانده، راڼه، تراخه، تراوه.

۵- ځینې دوه توریز او یو څپه ییز صفات د کوچنی «ه» په زیاتولو جمع کیږي. لکه:

---

(۱) د واو په نومو کې دری سلابیز او هغه دوه سیلابی چې په منځ کې یې «ا، ی» نه وي او د الف په نومو کې هغه څه په منځ کې (ي، ی) نه وي، دغه ډول دي.

**مفرد:** غل، مل، مړ، سور، شین، اوم، اوړد.

**جمع:** غله، مله، مړه، سره، شنه، اومه، اوږده.

٦- هغه نومونه او صفتونه چې په آخر کې یې اصلي حرف راغلی وی، که ساکښ وی، عموماً دان په زیاتولو او که بې ساوی، د «ونه»، په زیاتولو جمع کیږی. لکه:

مفرد: چرگ، اوښ، ځوان، مین.

جمع: چرگان، اوښان، ځوانان، مینان.

مفرد: کور، کال، پور، ټوپک.

جمع: کورونه، کلونه، پورونه، ټوپکونه.

## ښځينه جمعې

۲۲- د ښځينه جمعو د جوړولو قاعدې او علامې په وروسته ډول دي:

۱- هر مفرد مؤنث نوم چې په آخر کې «و» او «ی» وی، د «گانې» په زیاتوالي جمع کیږی. لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| زانگو | زانگوگانې | ژړا | ژړاگانې |
| پیشو | پیشوگانې | رڼا | رڼاگانې |
| ورشو | ورشوگانې | غوا | غواگانې |
| | | انا | اناگانې |

**یادونه:** ځینې پښتانه د الف نومونه د (وې) په راوړلو جمع کول.

لکه:

ژړاوې، رڼاوې، غواوې، اناوې.

۲- هر مفرد مؤنث نوم چې په پای کې یې څرگنده «ې» یا زورکی واله «ی» راغلی وی، که ساکښ وی په «گانې» جمع کیږی او که بې ساوی، نو جمع کی په زورکی واله «ې» راځی. لکه:

| ساکښ | | بې سا | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| مامی | مامې گانې | دوستی | دوستی |
| کاکی | کاکی گانې | ودانی | ودانی |
| انی | انی گانې | باتی | پاتی |
| بوډی | بوډی گانې | څوکی | څوکی |
| ابی | ابی گانې | خولی | خولی |

۳- کوم نومونه چې په پای کې یې اوږده (ي) راغلی وی، په پوهمنو کې په (انی) جمع کیږی او په ناپوهمنو او عمومی صفاتو کې جمع نه لری، بلکې د مفرد او جمع د پاره یو شان راځی. لکه:

| پوهمن | | ناپوهمن او عمومی صفات | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| ناوي | ناویاني | ورغومي | ورغومي |
| خوانبي | خوانبیاني | تلونکی | تلونکي |

٤- هغه مفرد مؤنث نومونه چې په آخر کې یې «ه» وی، په جمع کې یې «ه» په «ې» بدلیږی. لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ملګری | ملګرې | مالګه | مالګې |
| ګټه | ګټې | پخه | پخې |
| ختیه | ختې | جرګه | جرګې |
| پانه | پانې | خوله | خولې |

**یادګیرنه:** هر کله چې تول سماعی مؤنثات په اصل کې «ه» لری، نو ځکه یې جمع په آخر کې د «ې» په راوړلو راځی. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| غېږ | غېږې |
| لار | لارې |
| لمن | لمنې |
| ځنګل | ځنګلې |

٥- دنسبتي صفاتو او شريکو صفاتو ښځينه جمعې له نارينه جمعو د «ی» په زياتولو جوړيږي. لکه:

| مذکر جمع | مؤنث جمع | مذکر جمع | مؤنث جمع |
|---|---|---|---|
| دوبيان | دوبياني | ساده گان | ساده گاني |
| موچيان | موچياني | آشنايان | آشناياني |
| کابليان | کابلياني | خواران | خواراني |
| کولالان | کولالاني | | |

٦- د معنوي مؤنثاتو جمعې تر يوې قاعدې لاندې نه راځي، نو په وروسته ډول جوړيږي. لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|---|---|
| مور | ميندې | ترور | ترينديي | نجلۍ | نجونې |
| خور | خويندې | لور | لونې | ورندار | ورنداري |
| نږور | نږيندې | يور | يونې | ترور | تروريانې |
| | | | | تندار | تنداري |

*******
****
***
*

# د اسم حالتونه

د نوم حالتونه پر دوه ډوله دي: معنوي او لفظي. لومړی غواړو چې دنوم معنوي حالتونه وښیو:

۲۳- دنوم مشهور حالتونه څلور دی، چې په وروسته ډول ښودل کیږي:

۱- فاعلي حالت- کوم نوم چې په جمله کې فاعل وی، یعنې یو کار له هغه شخه صادر شي، یا پورې تړلې وی، دهغه حالت ته فاعلي حالت وایي: لکه:

«ځلمی خط لیکی»، «تور پیکی کور ته ځی».

په دې جملو کې ځلمی او تورپیکی دواړه فاعلي حالت لري.

۲- مفعولي حالت- که چیرې یو نوم په جمله کې مفعول واقع شي، دهغه حالت ته مفعولي حالت وایي، لکه: بریالی ډوډۍ خوری. ملالۍ سبق وایي. په دې جملو کې ډوډۍ او سبق په مفعولي حالت کې دی.

۳- ندایي حالت- که چیرې یو نوم ته غږ او ندا ورکړی شي، نو هغه نوم په ندایي حالت کی دی، لکه: ای وروه! ای هلکه! ای خورې! خورکې! تاته وایم.

په دې جملو کې ورور، خور، خورکۍ، هلک، ندایي حالت لري.

٤- ارتباطي حالت- که چیرې یو نوم دارتباط له اداتو سره استعمال شي او د ارتباط توری یا ورځنې دمخه او یا وروسته راشي، نو هغه نوم ارتباطي حالت لري. لکه:

له کوره راغلم، بازار ته ځم، ملالۍ ته قلم ورکه.

په دی مثالو کې: کور، بازار او ملالۍ ارتباطي حالت لري او د

ارتباط توری په کې (له ، ته) دی. په پښتو کې د ارتباط توری دادی:
«په، پر، د، تر، له، نه، لره، څخه، څنې، سره او نه».

۲٤- که چیرې دوه نومونه د «د» په واسطه له یو بل سره ارتباط پیدا کړی، نو هغه وخت ورته اضافی ارتباط وایی. په اضافی ارتباط کې لومړی مضاف الیه او وروسته مضاف راځی. لکه: دځلمی قلم، داختر ورځ، دزرو گوته، دلوست کوټه، دسترگو تور، دزړه سر، دکندهار انار، دکابل منۍ، مشهورې دی او که مضاف الیه د «مې» دې، یې ضمیرونه وی، نو بیا مضاف دمخه راځی، لکه:

قلم مې راکه، کتاب دې څه شو، زړه یې پریشان دی.

PROPERTY OF ACKU 11325

## دنوم لفظی حالتونه

۲۵- په پښتو کې نومونه د آخر د تغییر په لحاظ پر څو ډوله دی، دلته دنومونو لفظی حالتونه په وروسته ډول ښودل کیږی.

۱- هغه نوم چې په نرمه «ي» ختم شوی وی، په ندایی حالت کې مفتوح راځی او فتحه یې په «ه» لیکل کیږی، په فاعلی حالت او ارتباطی حالت کې دجمعې په شکل اوړی. یعنې نرمه «ی» په څرگنده «ي» بدلیږی او په نورو حالاتو کې په اصلی شکل راځی، لکه:

ندایی حالت، فاعلی حالت، ارتباطی حالت، اصلی حالت

ای ځلمیه! ځلمی خط ولیکه، په منگې کې او به نشته.

اې سړیه!! توریالی سبق ووایه، ځلمی ته څه وایې؟ توریالی یې بوت

۲- هغه صفت چې په منځ کې یې « و » وی ، په ندایی حالت کې مفتوح او په فاعلی او ارتباطی حالت کې دجمع په صورت راځی، لکه:
اې پښتونه! واړه هلک وختدل، بې ننګی دپښتانه مرګ دی.

۳- کوم نومونه چې په صحیح حرف ختم وی او جمع یې په (ان - ونه) راځی، په ندایی حالت کې مفتوح او په نورو حالاتو کې په اصلی صورت راځی.
لکه: اې ځوانه! ای هلکه! ای باده! ای کوره!

**یادونه:** دغه راز د ( له ، تر ، بې ، نا ) له اداتو سره هم مفتوح راځی.
لکه: بې فکره سړی دی، نا شکره دی، تر کوره پورې ځم، له کوره راغلم.

٤- سماعی مؤنث او په « ه » او ځرګنده « ې » مختوم مؤنث په ندایی فاعلی، ارتباطی دری واړو حالتونو کې په جمع بدلیږی.
لکه: ای میرمنې، دښمنی د یر کورونه وران کړل - نن دښادی ورځ ده.

ای دوستی! چرګې دانې وخورې، نن دمیاشتې شلم دی.
اې کتې! د کور میرمنې دوډی پخه کړه، سلیم بې ژبې سړی دی.
ای بدې ورځې.

٥- هغه معنوی مؤنث چې په صحیح حرف ختم وی، په ندایی حالت کې یې په آخر کې اوږده « ې » زیاتیږی د « له، بې، تر » » سره مفتوح او په نورو حالاتو کې په خپل شکل راځی.
لکه: ای مورې! ای خورې! له موره بل ځوک خوږ نشته، دا هلک بې موره دی، دی تر موره ورسوه.

٦- دجمع او اسم جنس نومونه چې په ځرګنده « ې » اوږده « ی » یا په

«ه» مختوم وی، په ندایی، فاعلی او ارتباطی حالاتو کې د آخر «ی-ه» په اوږد واو بدلیږی. لکه:

ای سړو! میلمنو ډوډۍ وخوړه، دغوړو قیمت زیات شوی دی.

ای میلمنو! دغو سړو ډیر کار وکړ، بې اړو کار نه کیږی!

ای ښځو! دغو ښځو کالی ووینځل! دمیلمنو کوټه چیرې ده!

زما میندو خویندو!

۷- هغه جمع مذکر او اسم جنس چې په صحیح حرف ختم وی، په ندایی فاعلی او ارتباطی حالاتو کې یې آخر ته کوچنی واو زیاتیږی، لکه: ای هلکانو! هلکانو سبق ووایه - دغنمو نرخ څنګه دی.

ای ځوانانو! دغو ځوانانو ډیر کار وکړ - د اوښانو بارونه درانه وی.

**یادګیرنه: الف-** ټول صفات چې جمع نه لری، که چیرې موصوف یې جمع وی، نه په دریواړو حالاتو کې یې آخر ته واو زیاتیږی، لکه:

ای غمجنو! لږو کسانو کار وکړ - په سپکو سیکه په درنو درونده.

ای شته منو! ډیرو خلکو خبری وکړې - په ډیرو کې یې جوره په لږو کې یې ویشه.

ب - په پښتو کې مصدر د جمع مذکر حکم لری او په دغو دریواړو حالاتو کې یې په آخر کې واو زیاتیږی. لکه:

ډیرو لیکلو ستړی کړم - دا د خوړلو څښلو وخت نه دی.

په مینځلو به یې سپین نه کړې بابو جانه
هر لیمنځی چې دوړی اصل یې تور وی

((( * * * * * )))

## نه بدلیدونکی نومونه

۲۶- په پښتو کې ځینې تغییر نه منونکی نومونه هم شته چې هغه په ټولو حالاتو کې په یو صورت استعمالیږی او په پای کې یې کوم تغییر او بدلون نه راځی. دغه قسم نومونه په بیلو بیلو حالاتو کې وروسته ښودل کیږی:

۱- هغه نوم چې په پای کې یې «الف» راغلی وی.

لکه: ای کاکا! دادا مې راته یو ښه قلم راوړ- حمید په خندا راغی.

۲- هغه نرینه نوم چې په کوچنی «ه» ختم وی. لکه:

ای نیکه! ځلمی ته خپل تره قلم وباښه، بې زړه سړی هیڅ نه شی کولای.

۳- هغه نوم چې په پای کې یې څرګند او اوږد «واو» وی. لکه:

ای ښارو! پیشو غوښه وتښتوله- زه د پښتو په ژب دود پوهیږم.

٤- هغه نوم چې په زور کې واله «ی» مختوم وی. لکه:

ای نجلی! ږلی دونو پاڼې هم تویې کړې- ړنا پر څوکۍ ناسته ده.

٥- هغه نوم چې په زور کې واله «ی» ختم وی. لکه:

ای ملګرې! ادې ډوډۍ پخه کړه، تورپیکۍ له خوابښې سره ولاړه.

٦- هغه نرینه نوم چې په څرګنده «ی» ختم وی. لکه:

ای دوبی! موچی بوټونه وګنډل، زما جامې د دوبی سره دی.

۷- هغه مُذکر نوم چې په څرګنده «ه» ختم وی. لکه:

ای پیاده! میلمه ډوډۍ وخوړه، میلمه د کور په لاس کې وی.

# په پښتو کې د پردو لغاتو قانون

۲۷ – هره ژبه د نورو ژبو لغاتو ته اړه لري او يوه اندازه دخيل لغات په کې موجود وي . په پښتو کې هم د عربۍ او نورو ژبو څه لغات راننوتي دي، مگر دغه ټول لغات د پښتو ژبې د قانون تابع دي ، چې په وروسته ډول ښودل کيږي:

۱ – هغه عربي مصدرونه او لغات چې په آخر کې يې «الف، ه، ع، ح» وي ، په پښتو کې مؤنث استعماليږي. لکه:

ابتدا – اوس د کار ابتداء ده.

اصلاح – د دوو ترمنځ اصلاح په کار ده.

مفاهمه – په هر کار کې يو تر بله مفاهمه ښه ده.

توقع – ډيره توقع لرم.

موضوع – دا موضوع ډيره مهمه ده.

اطلاع – نوې اطلاع راغلې ده.

تفريح – دوی ښه تفريح وکړه.

ترفيع – ده سږ کال ترفيع کړې ده.

۲ – هغه پارسي يا عربي الفاظ چې په پای کې يې اوږدو او يا څرگنده «ې» ، يا (ا ، ه) راغلي وي، مؤنث استعماليږي. لکه:

گفتگو – ډيره گفتگو مو سره وکړه.

جستجو – جستجو يې په کار ده.

دانشگاه – دا د علم دانشگاه ده.

رباعي – ده يو ښه رباعي ويلې ده.

مثنوی - ما یوه ښه مثنوی لیکلې ده.

۳ - د عربي هغه ټول مصدرونه او کلمې د غه شان د نورو ژبو هغه ټولې کلمې چې په آخر کې يې اصلي توري وي، مُذکر استعمالیږي.

لکه:

اعتدال - په هر کار کې اعتدال ښه ی.

موټر - دا موټر زوړ شوی دی.

تعصب - تعصب بد کار دی.

٤ - ټول عربي صفات چې په اصلي حرف ختم وي، په پښتو کې د «ه» په زیاتولو مؤنث کیږي. لکه:

خدمتګار، خدمت ګاره، عاقله، مالدار، مالداره، فاضل، فاضله.

٥ - هغه عربي مصدرونه او کلمې چې په «ه» یا په مفتوح «ع، ح» ختم وي، په آخر کې د «ې» په راوړلو جمع کیږي. لکه:

مناظره، مناظرې، طمع، طمعې، معامله، معاملې، ذبح، ذبحې، رقعه، رقعې، قبح، قبحې.

٦ - هغه عربي مصدرونه او د نورو ژبو کلمې چې په آخر کې يې «الف» وي، د «ګانې اووې» په راوړلو جمع کیږي. لکه:

التجا - التجاګانې = التجاوې. اشتها - اشتهاګانې = اشتهاوې.

دعا، دعاګانې = دعاوې.

٧ - کوم نومونه چې په «ع، ح» ختم وي او د مخه يې د «الف، واو، ییښ» راغلي وي، د غه شان هغه نومونه چې په اوږد او یا څرګنده «ی» ختم وي، دغه ټول د «ګانې» په راوړلو سره جمع کیږي. لکه:

اطلاع - اطلاعګانې. ترفیع - ترفیع ګانې.

اختراع - اختراع ګانې. آرزو - آرزو ګانې.

موضوع – موضوع ګانې. رباعی، رباعی ګانې.

۸– هغه عربی مصدرونه او نومونه چې په اصلي حرف ختم وي، ساکښ يې په «ان» او بې سا يې په «ونه» جمع کيږي. لکه:

علم – علمونه. انعام – انعامونه. انقلاب – انقلابونه.

موټر – موټرونه. فاضل – فاضلان. عالم – عالمان. قاتل– قاتلان.

۹– که چيرې عربي مصدرونه او نومونه د عربي جمعې په ډول استعمال شي، نو په پښتو کې د جمع مُذکر حُکم لري. لکه:

ډير موضوعات او مهم مطالب ويل شوي دي.

نوي اطلاعات راغلي دي. انعامات يې ورکړل.

۱۰– د ټولو عربي جمعو په آخر کې په ارتباطي، فاعلي او ندايي حالاتو کې کوچنی واو زياتيږي. لکه:

ای حوادثو! مطالبو ته فکر کول ضروري دي.

له اطلاعاتو څخه ځان خبرول په کار دي. حوادثو او واقعاتو وربړولم.

۱۱ – هغه عربي نوم چې په «ه» يا مفتوح «ح، ع» ختم وي، په دريواړو حالاتو کې يې «هـ» او فتحه په «ی» بدليږي. لکه:

په مفاهمې باندې هر کار فيصله کيږي.

دا د مناظرې وخت نه دی. د فتحې په وخت کې خوشحالي ډيره وي.

ای فتحې تل اوسې! مباحثې ستړی کړم.

۱۲– که چيرې «بې له، نا» په يوه مفرده عربي کلمه داخل شي، په آخر کې يې د فتحې په ځای «ه» زاوړل کيږي. په ندايي حالت کې په آخر کې «ه» زياتيږي. لکه:

بې مطلبه کار څه په کار دی. څوک مې له حاله خبر نه شو.

ناشکره سړی ښه نه وي. ای زما د زړه مراده! خدای دې تر سره کړه!

# ضميرونه

۲۸ - ضمير هغه کلمه ده ، چې دنوم په ځای د تکرار دلرې کولو دپاره راځي.

ضميرونه په پښتو کې پر څو ډوله دي او مشهور قسمونه يې دا دي:

شخصي ضميرونه، اشاري ضميرونه، استفهامي ضميرونه، مبهم ضميرونه، ربطي ضميرونه.

شخصي ضميرونه هغه دي چې پر يو معين شخصي يعنې په متکلّم ، مخاطب او غايب باندې دلالت کوي. شخصي ضميرونه د استعمال له مخې په پيوست «متصل» او ناپيوست «منفصل» باندې ويشل کيږي

۲۹ - متصل ضميرونه هغه دي، چې يوازې نه راځي او تل د فعل سره پيوست استعماليږي ، ټول متصل ضميرونه دا دي:

م - د مفرد متکلّم دپاره ، لکه: په ځم کې.

و - د جمع متکلّم دپاره، لکه: په ځو کې.

ې - د مفرد د مخاطب دپاره، لکه: په ځې کې.

يې - « است » د جمع مخاطب دپاره، لکه: په راغلی، راغلاست کې

ی - د - د مفرد مُذکر غايب دپاره، لکه: ځلمی تللی دی .

ځلمی په باغ کې گرځيده.

ل - د جمع مذکر غايب دپاره، لکه: هلکان راغلل.

ه - د مفرد مؤنث غايب دپاره، لکه: ملالی له خوبه پاځيده.

ې - د جمع مؤنث غايب دپاره، لکه: نجونې پوهنځی ته ولاړې.

څرگند ده «ی» - په حال او مستقبل کې د مفرد ، جمع، مذکر او مؤنث دپاره، لکه:

ځلمی سهار وختی له خوبه پاڅی. ملالی چای څښي.
هلکان سبق وایي. نجونې خط لیکي.
دغه متصل ضمیرونه همیشه د افعالو سره پیوست راځي، نو ځکه فعلي ضمیرونه هم ورته وایي.

۳۰ - دغه متصل ضمیرونه دوه حالته لري: فاعلي او مفعولي.
په لازمي فعلونو کې د فاعل په حیث او په متعدي فعلونو کې د مفعول په حیث راځي، مګر په استعمال کې منفصل ضمیرونه هم ورسره راتلای شي.

### فاعلي حالت

| جمع | مفرد |
|---|---|
| مونږ ګرځو | متکلم- زه ګرځم |
| تاسې ګرځې | مخاطب- ته ګرځې |
| دوی ګرځیدل | مذکر غایب- دی ګرځي. |
| دوی ګرځیدلې | مؤنث غایب- دا ګرځیده |

### مفعولي حالت

| جمع | مفرد |
|---|---|
| ځلمی مونږ وپیژندلو | متکلم- ځلمی زه وپیژندلم |
| ځلمی تاسې وپیژندلې | مخاطب- ځلمی ته وپیژندلې |
| ما دوی ولیدل | مذکر غایب- ما دی ولید |
| ما دوی ولیدلې | مؤنث غایب- ما دا ولیدله |

**یادونه:** متصل ضمیرونه یوازې په ماضي فعلونو کې مفعولي حالت لري او په حال او استقبال کې تل د فاعل په حیث راځي.

# منفصل ضميرونه

۳۱- منفصل ضميرونه هغه دي، چې له بلې کلمې سره پيوست نه راځي، بلکې ځانله او جلا ليکل کيږي. منفصل هم بيا پر دوه ډوله دي: يو قسم يې مستقل «خپلواک» او بل قسم يې غير مستقل «نا خپلواک» دي. مستقل منفصل ضميرونه په وروسته ډول ښودل کيږي:

زه، ما - دمفرد متکلّم دپاره.

مونږ - دجمع متکلّم دپاره.

تاسې - دجمع مخاطب دپاره.

دی، ده - دمفرد مذکر غايب دپاره. د نژدې غايب دپاره، يعنې ددريم سړي دپاره که څه هم حاضر وي.

دا، دې - دمفرد مؤنث غايب دپاره.

دوی - دجمع غايب دپاره.

هغه - دغه په زور، هغه دغه په زور کې - دمفرد مذکر غايب دپاره.

هغه هغې - دمفرد مؤنث غايب دپاره. دليرې غايب دپاره.

هغوی - دجمعې غايب دپاره.

دغه ضميرونه د استعمال له مخې بيل بيل حالتونه لري، چې په وروسته ډول بيانيږي:

۱- په دغو ضميرونو کې «ده، دې، هغه، هغې» خالي يو فاعلي حالت لري، يعنې يوازې دمتعدي ماضي دفاعل په حيث استعماليږي او په نورو حالتو کې نه راځي. لکه:

| مؤنث | مذکر |
| --- | --- |
| دې ختېکی وخوړ | ده ختېکی وخوړ |
| هغې ختېکی وخوړ | هغه ختېکی وخوړ |

۲ - «ما، تا»، دا دوه ضمیرونه په متعدی ماضی کې د فاعل په حیث او په حال مستقبل او امر کې دمفعول په حیث راځي. لکه:

| مفعولی | فاعلی |
| --- | --- |
| توریالی ما وینی | ماخط ولیکه |
| ته به ما کورته بو ځې؟ | تا خط ولیکه |

۳- «زه، ته» دا دوه ضمیرونه هم فاعلی حالت لري، هم مفعولی، په متعدی ماضی کې دمفعول په حیث او په لازمی افعالو او متعدی حال او مستقبل کې دفاعل په حیث استعمالیږي. لکه:

| فاعلی حالت | مفعولی حالت |
| --- | --- |
| زه ځلمی وینم، زه ځم | زه ځلمی ولیدلم |
| ته ځلمی وینی، ته ځې | ته ځلمی ولیدلې |

زه به خط ولیکم، زه تللی وم

ته به خط ولیکی، ته تللی وی

٤- «دی، دا، هغه» دا ضمیرونه هم دوه حالته لري: فاعلی او مفعولی، مگر فاعلی حالت یې په متعدی افعالو کې په حال او مستقبل پورې خاص دی او مفعولی حالت یې کوم اختصاص نه لري، په ماضی او حال دواړو کې راځی. لکه:

| مفعولي حالت | فاعلي حالت |
|---|---|
| مادي ولید ،زه دي بیایم | دی خط لیکی ، دی به خطي ولیکی |
| ما هغه ولید ، زه به هغه راولم | هغه خط لیکی |
| ما دا ولیده ، زه به دا راولم | دا خط لیکی |

٥ – « مونږ ، تاسې ، دوی ، هغوی » دغه ځلور دجمع ضمیرونه استعمالیږی ، له مخه هیڅ اختصاص نه لری ، په ماضی او حال کې هم دفاعل په حیث استعمالیږی او هم دمفعول په حیث . لکه :

| مفعولي حالت | فاعلي حالت |
|---|---|
| توریالي مونږ ولیدلو | مونږ سبق ووایه |
| توریالي تاسې ولیدلې | تاسې څه کوئ ؟ |
| توریالي دوی ولیدل | مونږ خط لیکو |
| توریالي دوی ولیدل | دوی په زما قلم راوړی |
| توریالي مونږ وینی | دوی به زما قلم راوړی |
| او تاسې نه وینی | دوی چیرې ولاړل ؟ |
| | هغوی کور ته ولاړل |

٦ – په پورته ضمیرونو کې یوازی « زه ، ته ، دی ، دا ، هغه » ارتباطی حالت نه لری او نور ټول ضمیرونه دښکاره نوم په شان ارتباطی حالت لری او دارتباط له تورو سره استعمالیږی . لکه :

| | |
|---|---|
| مونږ – مونږ ته خپل وطن گران دی | ما – ماته څه وایی ؟ |
| تاسی – تاسی ته خبره کوم | تا – له تاسره مې کار دی |
| دوی – پر دوی باندی کار ډیر دی | ده – ده ته څه مه وایه |
| هغوی ته مې کتابونه ورکړل | دی – ددې کور چیرې دی ؟ |
| | هغې – له هغې نه دا پوهه ده . |

# اضافي ضميرونه

۳۲- په پښتو کې اضافي منفصل ضميرونه په وروسته ډول ښودل کيږي:

زما - زموږ د متکلّم د پاره.

ستا، ستاسې - د مخاطب د پاره.

د ده، د دوی د نژدې مذکر غايب د پاره.

د دې، د دوی د نژدې مؤنث غايب د پاره.

د هغه، د هغوی - د ليرې مذکر غايب د پاره.

د هغې، د هغوی د ليرې مؤنث غايب د پاره.

دغه ټول اضافي ضميرونه تل له مضاف څخه د مخه راځي او مثالونه يې دادي:

زما کور په کابل کې دی. زموږ هيواد افغانستان نوميږي.

ستا فکر ښه دی. ستاسې خيال څنګه دی؟

د ده لاس خوږيږي.

د دې زړه خپه دی. د دوی تعليم زيات دی.

د هغې مور ژوندۍ ده. د هغوی فکر پوخ دی.

*****

# ناخپلواک منفصل ضمیرونه

۳۳- په پښتو کې غیر مستقل ضمیرونه هم شته دی، چې ځانله شکل لری، مګر بې د نورو کلمو له راوړو ځانله نه استعمالیږی، دغه ضمیرونه په وروسته ډول دی، لکه:

مې، مو - د متکلّم د پاره.

دې، مو - د مخاطب د پاره.

یې - د غایب د پاره.

د استعمال په لحاظ دغه ضمیرونه د افعالو په آخر او منځ او د نومونو په آخر کې راځی، مګر د لازمی افعالو او د ارتباط له اداتو سره نه استعمالیږی.

۳٤- دغه ضمیرونه درې حالته لری: فاعلی، مفعولی، اضافی. مګر فاعلی حالت یې په ماضی متعدی پورې او مفعولی حالت یې په امر، حال او مستقبل پورې اړه لری، مثالونه یې دادی:

| فاعلی حالت | مفعولی حالت |
| --- | --- |
| کتاب مې واخیست | ته مې چیرې بیایې؟ |
| کتاب مو واخیست | دی مو چیرې بیایی؟ |
| کتاب دې واخیست | زه دې له ځانه سره بیایم |
| کتاب مو واخیست | زه مو له ځانه سره بیایم |
| کتاب یې واخیست | زه یې کورته بیایم |
| زه یې کورته بیایم | |

## اضافی حالت

کتاب مې راکه، کتابونه مو راکه، کتاب دې څه شو؟ کتابونه مو څه شول؟ کتاب مې ورک شو.

## اشاري ضميرونه

۳۵- په پښتو کې ځينې اشاري ضميرونه هم شته دي، چې د اشارې په ډول د اشخاصو او شيانو په ځای استعماليږي، په پښتو کې اشاري ضميرونه په وروسته ډول دي:

دغه، دغو - د نژدې مذکر د پاره. هغو - د ليرې مذکر د پاره.

دغې، دغو - د نژدې مؤنث د پاره. هغې، هغو د ليرې مؤنث د پاره.

په دغو کلمو کې «دغې، هغې» د مفرد مؤنث د پاره او «دغو، هغو» د جمع مذکر او مؤنث د پاره، د ماضي متعدي په فاعلي حالت او ارتباطي حالت کې استعماليږي او «دغه، هغه» په نورو حالاتو کې د مؤنث مذکر، جمع او مفرد د پاره يوشان راځي.

مثالونه يې په وروسته ډول دي:

| فاعلي حالت | ارتباطي حالت | نور حالتونه |
|---|---|---|
| دغې ډوډۍ پخه کړه | له دغې نه قلم واخله | دغه راغلې ؤ<br>دغه راغلې وه |
| هغې کالي وګنډل | هغې نه کاغذ ورکه شوه | هغه نه ؤ راغلی.<br>هغه نه وه راغلې |
| دغو سر جوړه کړه | د دغو کار ولې نه کوی؟ | |
| هغو خپل کار وکړ | له هغو پوښتنه وکړه. | |

**يادګيرنه:**

اشاري ضميرونو سره که چيرې مرجع نه وي ذکر شوې، نو اشاري ضميرونه بلل کيږي، لکه په پورته مثالونو کې او که چيرې مرجع وروسته راغلې وي، نو بيا ورته اشاري صفت ويل کيږي، لکه:

هغې دغې، ډوډۍ پخه کړه - دغو سړو لار جوړه کړه.

دغه هلک يو پوه هلک دی.

## استفهامي او ربطي ضميرونه

۳٦- استفهامي ضميرونه هغه دي، چې د سوال او پوښتنې په وخت کې استعماليږي او په وروسته ډول ښودل کيږي:

چا، څوک - د اشخاصو د پاره راځي، (چا) د ماضي متعدي په فاعلي حالت او ارتباطي حالت کې او «څوک» په نورو حالاتو کې استعماليږي.

مثالونه يې دادي:

چا سبق ولوست- چا خط وليکه؟

چا ته وايې؟ دا سړی د چا ورور دی؟

څوک - راغلي دي؟

څوک - غواړي؟

څوک - دې ژړوي؟

څه، څومره، څو - د غه درې واړه ضميرونه په دريواړو حالتونو کې راځي، لکه:

څه وچيچلې؟ تا څه واخيستل؟ له څه ويريږې؟

دا قلم دې په څو واخيست؟ څومره اخلې؟

څوم، څومه، کوم- کومه؟

دا هم استفهامي ضميرونه دي، مگر هغه وخت چې مرجع ورسره نه وي ذکر شوی، لکه:

څووم دې په کار دی؟ څوومه غواړې؟ کوم دې په کار دی، کومه غواړې؟

۳۷- په پښتو کې یو قسم ربطي ضمیرونه هم شته چې په جملو کې د ربط وظیفه اجرا کوي او اوله جمله دوهمې جملې سره تړي. دغه ضمیرونه زیات نه دوو توکو څخه جوړ شوي دي.

مثالونه یې په وروسته ډول دي:

څوک چې - څوک چې بدګرځي بد به پرزي.

چا چې - چا چې کار وکړ، ګټه به ومومي.

څه چې - څه چې کرې، هغه به ریبې.

هر څه - هر څه چې وايي وایه.

څومره چې - څومره چې خوړلی شي وخوره.

د «ترې - ترینه، ځنې، پرې، په کې» کلمې هم د ربطي ضمیرونه وظیفه اجرا کوي، مثالونه یې دادي:

ترې - ترې نه، قلم ترې واخله.

ځنې - پوښتنه ځنې وکړه.

پرې - زما پرې روپۍ دي.

په کې - ځلمي په کې ناست دي.

دغه کلمې په اصل کې ددې کلمو «ترده، له ده، په هغه کې» په ځای په مخفف ډول استعمالیږي.

«««***** »»»

# مبهم ضميرونه

۳۸ - په پښتو کې ځينې مبهم ضميرونه هم شته ،چې ديو نامعلوم شي يا شخص پر ځای، استعماليږی او پر دوه ډوله دی: بسيط او مرکب

بسيط مبهم ضميرونه دادی:

څوک: څوک کارکوی او څوک ساعت تيروی.

چا : چا کار کړی دی او چا نه دی کړی.

څه : څه دادی او څه نور دی.

څو: څو يې مړه شول او څو يې پاتې دی.

هيڅ: دلته هيڅ نشته.

مرکب مبهم ضميرونه ډير او يو څو يې دادی:

هر څوک: هر څوک خپل خپل کار کوی.

هرچا: هر چا په کې خبرې وکړې.

هر څه: دلته هر څه پيدا کيږی.

هيڅوک: هيڅوک نه وايی ، چې زه نا پوه يم.

هيچا: هيچا ته څه مه وايه.

هر يو: هر يو وايی، چې زه من يم.

بل يو: بل يو هم نشته.

«««* * * *»»»

# صفت

۳۹- صفت هغې کلمې ته وایي ، چې دیوه نوم حالت، کیفیت او څرنګوالې بیانوي. صفت پر څو ډوله دی او په وروسته ډول ښودل کیږي:

**۱- اصلي صفت:** چې دیوه نوم ذاتي ښه والې او بدوالې ښکاره کوي.

لکه: ښه سړی، مشر سړی، بد سړی او نور.

اصلي صفات دادي:

ښه، بد- تور، سپین- خړ، سور- غټ، لوی- نری، اوم- پوخ، خپل پردی، لوخ- مړ، ژوندی- روغ، جوړ- وړی، تږی- موړ، سوړ- ووړ، زوړ- تیټ، لوړ- جګ، اوچت- ګرندی، پلن- لنډ، اوږد- ارت، تنګ ژوبل، تپی- پوه او نور.

**۲- نسبتي صفت:** چې یو بل نوم ته یې نسبت شوی وي. لکه:

کندهاری، پکتیاوال، یوسف زی، کورنی، سلیمان خیل، وریښمین او نور.

**۳- اشاري صفت:** هغه کلمې چې دهغو په واسطه یو نوم ته اشاره وشي او هغه ته اختصاص ورکړي ، اشاري صفت بلل کیږي. لکه:

دا کورتې دې په څو روپۍ ګنډلې ده.

دغه باغ د انګورو دی.

دغه سړی دغنمو لو کوي.

دا ونه ښه سیوري لري.

دهغه غره په سرونې ښکاري.

دغه هلکان دزمرک وروپرونه دی.
دغه لرگی وچ او هغه نور لانده دی.
له پورته مثالو څخه څرگندشوه، چې په پښتو کې داشاري کلمې دنر، ښځې، مفرد، جمع، ساکښ او بې سا دپاره یو راز ویل کیږی.
٤- **عددی صفت:** هغه کلمې دی، چې دهغو په واسطه د یو شی شمیر اندازه معلومیږی.
لکه: دوه لاسونه، دوې سترگې، شپږم کال، پنځمه ورځ او نور.
که چیرې یو عدد یوازې شمیر او اندازه وښیی مطلق عدد یې بولی او که چیرې په رتبه او درجه هم دلالت وکړی، نو رتبې عدد ورته وایی.
لکه: دی یو کمیس په شل افغانی گنډی. نن دمیاشتې ۲٦ ورځ ده.
مطلق عددونه بې له یو او دوه څخه دمذکر او مؤنث دپاره یو شان راځی او رتبې عددونه دخپل موصوف تابع دی.
لکه: لسم کال، لسمه ورځ.
٥- **استفهامی صفتونه:** چې دپوښتنې په وخت کې استعمالیږی او موصوف ورسره راغلی وی. لکه:
څومره غنم دې په کار دی. کوم هلک پوه دی. څو کتابونه اخلې.
٦- **فعلی صفتونه:** هغه دی، چې دفعل او کولو معنې هم په کې وی او دنورو صفاتو په شان دیو نوم حال او شان هم بیانوی.
فعلی صفات پر دوه ډوله دی. یو قسم یې فاعلی صفات دی. لکه:
پالونکی، تلونکی، تلونی، تللی، راغلی، پاڅیدلی، گرځیدلی.
او بل قسم یې مفعولی صفات دی. لکه:
ساتلی، لیکلی، پرې کیدونکی، وهل کیدونکی او نور.

۴۰- فعلي صفات له مصدر څخه د مصدري علامو پر ځای د « ی، ونکی، ونی » په راوړو جوړیږی. د « ی » په واسطه جوړ شوی صفات په تیره زمانه پوري او د « ونکی، ونی » په واسطه جوړ شوی صفات په حال او راتلونکي زمانه پوري اړه لري. نور مثالونه دادي:

تللی وخت په مثال مړی د لحد دی * مړی چادی ژوندی کړی په ژړا

سل بللی ځائیږی او یو نابللی نه ځائیږی.

څوک چې کالی ګنډی، هغه ته ګنډونکی وایی.

۴۱- په پښتو کې صفت تر موصوف د مخه راځی او دغه ترکیب ته توصیفی ترکیب « ۱ » وایی. صفت په تذکیر، تأنیث، جمع او افراد کې همیشه د موصوف تابع دی او د دواړو په منځ کې مطابقت لازم دی. لکه: خوږه مڼه، خوږ ختکې، خوږې هندوانې، خواږه انګور، زړو سړی، زاړه سړی، زړه ښځه، زړې ښځې.

صفات د حالاتو په لحاظ هم د موصوف تابع ګڼل کیږی. کوم تغییر چې په موصوف کې راځی، هغه په صفت کې هم راځی. لکه:

| ارتباطي حالت | مفعولي حالت | فاعلي حالت |
|---|---|---|
| د لوی غرو د خدای نظر دی | دغه وړوکی هلک چا ووهه | تور سترګو لیونی کړم |

ډیرو کارونو ستړی کړم په سر یې واوری په لمن زیږی ګلونه.

ندایي حالت- ګرانه وروره ستړی مه شې!

---

« ۱ » - مګر هغه صفات چې یو اختصاصی رنګ ولری، دغه شان خاص لقبونه او تخلصونه تر موصوف وروسته راځی. لکه: احمد شاه بابا، زرغونه انا.

# مجرد وصفونه

٤٢ - مجرد وصف هغه ته وايي، چې په خارج کې کوم مادي وجود نه لري او خالي وصف او حالت ترې مراد يږي. لکه:
ليونتوب، هوښيارتوب، روغتيا، اوږدوالې، دوستي، دښمني او نور.

٤٣ - په پښتو کې دمجرد وصف دجوړولو مشهورې علامې دادي:
( توب، تيا، والي، ي) ، دغه علامې داسم او صفت په آخر کې راځي او مجرد وصفونه ترې جوړيږي. لکه:

| | |
|---|---|
| سړی - سړی توب | لوی - لوی والی |
| خر - خرتوب | تور - تور والی |
| ليونی - ليونتوب | جګ - جګ والی |
| مين - مينتوب | ترکاڼ - ترکاڼي |
| روغ - روغتيا | ورور - وروري |
| تينګ - تينګتيا | انډيوال - انډيوالي |
| لوړ - لوړتيا | |

دمجرد وصف دجوړولو دپاره ، ځينې نورې لاحقې هم شته، خو مثالونه يې لږ دي. لکه:

واله - له پښتون څخه پښتونواله.

ولي - له خپل څخه خپلولي.

ګلوي - له ورور څخه وروګلوي.

ينه - له مړ څخه مړينه.

ښت - له مور څخه مړښت. له زوړ څخه زړښت.

٥- له پوه ځخه پوهه.

٤٤- مجرد وصفونه په نورو حکمونو کې د مجردو نومو په شان دي او په جمله کې فاعل مفعول او مضاف ، مضاف الیه واقع کیږي. لکه:

مشرتوب لوی لوی کارونه غواړي.

دبدن پاکوالی دصحت دپاره ضرور دي.

دځلمی توب زمانه دکار او فعالیت زمانه ده.

# مصدر (زیږنده)

٤٥- مصدر هغه کلمه ده چې بې له زماني څخه یو فعل او کاربیې او زمانه ترې معلومیږي. په پښتو کې مصدر د لفظ او آخر په لحاظ په پنځه ډوله دی:

١- لام والا، لکه: وهل- تلل.

٢- ول والا، لکه: غورځول- ماتول- خندول- الوزول- تودول

٣- یدل والا، لکه: گرځیدل، مړیدل، پاڅیدل.

٤- کول والا، لکه: پورته کول، پخلا کول.

٥- کیدل والا، لکه: پرې کیدل، وهل کیدل.

٤٦- د مصدر معنوي قسمونه په وروسته ډول ښودل کیږي:

**١- لازمي مصدر:** هغه دی، چې فعل یې یوازې په فاعل تمامیږي او دریم شی، یعنې مفعول ته ضرورت نه لري. لکه: تلل، گرځیدل او نور.

**٢- متعدي معلوم:** چې فعل یې یوازې په فاعل نه تمامیږي، بلکې مفعول هم غواړي، لکه: تړل، ساتل، پخول، اشنا کول.

**٣- متعدي مجهول:** چې فاعل یې معلوم وي. لکه: پرې کیدل، وهل، کیدل او نور.

**٤- متعدي حکمي:** چې د معنې په لحاظ لازمي وي، مگر په استعمال کې د متعدي مصدرونو حُکم لري او د «ما، تا، ده» ضمیرونه ورسره استعمالیږي. لکه:

ده وخندل، هغه وژړل. دغه ډول مصدرونه دادي: خندل، ژړل، غپل، نڅل، دانگل، زانگل، لامبل، تېوخل، توکل، غړمبل، توږل.

یادگیرنه:

لام والا مصدرونه متعدي هم راځي او لازمي هم، مگر دول او کول والا مصدرونه همیشه متعدي وي او د یدل او کیدل والا مصدرونه کله لازمي او کله متعدي مجهول وي.

لازمي لکه: گرځیدل، پخلا کیدل او متعدي مجهول، لکه: ډبیدل، پرې کیدل.

٤٧- د پښتو مصدرونه د اشتقاق په لحاظ په درې ډوله دي:

**١- تغییر نه منونکي:** هغه مصدرونه، چې د حالیه افعالو په گروپ کې خپله اصلي ماده ساتي او کوم اساسي بدلون په کې نه راځي، تغییر نه منونکي مصدرونه دي. لکه: «منل، ساتل» چې د حال، مستقبل صیغې یې بې له کوم تغییره جوړیږي، مثالونه دادي:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| حال | مستقبل | امر | ماضي | استمراري | فعلي صفت |
| منم | وبه منم | ومنه | مانه | | منلې |
| ساتم | وبه ساتم | وساته | ساته | | ساتلې |

**٢- قانوني تغییر منونکي:** هغه مصدرونه دي چې د حالیه افعال په اصلي ماده کې یې دیوې قاعدې سره سم تغییر راځي، لکه: وتل، تلل، چې د حال په فعل کې یې «ت» په «ځ» بدلیږي. مثالونه دادي:

وځم، وبه وځم، ځم، ځم به، ځه.

**٣- بې قانونه تغییر منونکي:** هغه مصدرونه دي، چې په حالیه

اُفعالو کې يې اصلي ماده بې له کوم قانون او قاعدې بدليږي . دغه ډول مصدرونه په پښتو کې لږ او په دې ډول دي:

( کتل، ليدل، وژل، موندل، ننښتل، ختل ) ، چې د حال فعلونه يې داسې راځي: ګورم، وينم، وژنم، مومم، ننښلم ، خيژم.

یادګیرنه:

الف – ول والا ، کول والا ، يدل والا او کيدل والا مصدرونه د اشتقاق په لحاظ ټول قانوني مصدرونه دي او ټول افعال ورځنې ديوې قاعدې سره سم جوړيږي.

ب – په پښتو کې ټول مصدرونه د مذکر جمع حُکم لري او ټول فعلونه، صفات د ربط کلمې ورسره د مذکر جمع په شکل استعماليږي.

لکه: هره ورځ وهل تکول ښه نه دي.

زيات خوړل بد دي، ليدل کتل مو سره وشول.

# حاصل مصدر او د آلې نوم

٤٨- هغه نوم چې فعلي معنی لري او له مصدر څخه جوړ شوی وي، حاصل مصدر نومیږي. حاصل مصدر په پښتو کې د مصدر په معنی راځي، فرق دومره دی، چې په حاصل مصدر کې د رسمیت رنګ غالب وي او په مصدر کې فعلي مفهوم قوي وي.

حاصل مصدر له مصدر څخه د لاحقو په زیاتولو جوړیږي. د حاصل مصدر مشهورې علامې دادي: دغه علامې د مصدري علامې په ځای راځي.

١- نه، لکه: وهنه، ساتنه، لټونه، الوزونه، تلنه، دریدنه، غورځیدنه، پخلاکیدنه.

٢- کوچنی «د» لکه: غورځیده، لمبیده، لیده، کاته او نور.

٣- ښت، لکه: جوړښت، لګښت، مړښت.

٤- ون، لکه: تړون، ګډون، لټون، لمسون.

٥- (الف)، لکه: خندا، ژړا، لمبا، نڅا، غپا.

٦- څرګنده «هـ»، لکه: ګټه، روغه، لمسه، زغاسته.

٧- نرمه «ی»، لکه: غورزی، برابری، ودانی.

٨- تګ، لکه: اوسیدتګ، پاڅیدتګ، غورزیدتګ.

په پښتو کې د حاصل مصدر د جوړولو د پاره ځیني نورې علامې هم شته، مګر یو یا دوه مثاله لري او څو یې دادي: خوراک، څښاک، تینګار، هستوګنه، خرڅلاو.

## د آلې نوم

٤٩- آله دهغه شي نوم دی، چې دفاعل او مفعول تر منځ دفعل د رسولو په واسطه او ذریعه وي. لکه: مچ شړونی چې دمچانو دشړلو آلې ته وایي.

د آلې نومونه بسیط هم وي. لکه: اره، رنده او مرکب هم وي.

هر کجې آلې له متعدی مصدر څخه دفعلي مادې په پای کې د «ونی» په زیاتولو جوړیږي. لکه:

له سرتړل څخه سرتړونی

له رګ وهل څخه رګ وهونی

له اور لړل څخه اور لړونی

له غوږ وهل څخه، غوږ وهونی

له پاکول څخه، پاکوونی

له چاڼول څخه، چاڼوونی

له تورول څخه، تورونې

له لاس پاکول څخه، لاس پاکې

له مچ وژل څخه، مچ وژی

کله کله د «ی» په غورځولو هم ویل کیږي.

لکه: لاس پاک، مچ شړ.

# فعل

۵۰ - فعل هغه کلمه ده، چې په یوه زمانه کې د یوه کار په کولو او یا کیدلو دلالت کوی. لکه: (وایي، ویه‌وایي، وویل)، چې لومړۍ کلمه په حال دوهمه په راتلونکې او دریمه په تیره زمانه کې دویلو کار او چار ښیي. فعل داشخاصو په لحاظ په درې ډوله دی: دمتکلّم فعل، دمخاطب فعل او دغایب فعل، چې دغه هر یو - بیا په مفرد، جمع، مذکر او مؤنث ویشل کیږی.

فعل دمعنی په لحاظ په لازمی، سعدی، معلوم او مجهول مثبت او منفی باندې ویشل کیږی، لازمی فعل یوازې په فاعل تمامیږی، لکه: پاڅید، کیناست، وخوت. او متعدی فعل سربیره په فاعل، مفعول هم غواړی، یعنې یوازې په فاعل نه تمامیږی. لکه: ځلمی کتاب لولی. زه خط لیکم. دی ډوډۍ خوری.

که چیرې په جمله کې دیو فعل فاعل معلوم و، هغه ته معلوم فعل وایی. لکه: زه دې پیژنم، خو ته مانه پیژنې. او که فاعل معلوم نه ؤ، نو هغه ته مجهول فعل وایی. لکه: وړمه شپه میاشت لیدل شوې ده. ځلمی هره ورځ وهل کیږی. مثبت فعل دیوه کار په کولو او منفی یې په نه کولو دلالت کوی. لکه: زه هره ورځ لامبم. څوک چې نه لامبې دهغه وجود خیرن وی، فعل دزمانی په لحاظ په درې ډوله دی: حال، مستقبل او ماضی. موږ په پښتو کې ټول افعال په دوو لویو گروپونو ویشو:

**۱ - دحالیه افعالو گروپ:** چې په دې کې دحال ټول قسمونه دمستقبل ټول قسمونه او د امر قسمونه شامل دی.

**۲ - دماضیه افعالو گروپ** :چې په دې کې ټولې ماضی گانې او فعلی صفتونه شامل دی.

# دحال فعل

۵۱ - دحال فعل هغه کلمه ده ، چې په موجوده زمانه کې دیو کار پر کولو دلالت کوي، لکه : وهي، غواړي، گورم، گرځم.

حال په پښتو کې په درې ډوله دی:

**۱- استمراري (اخباري) حال** ، چې په موجوده زمانه کې دفعل پر دوام اوجریان دلالت کوي، دغه ډول حال له مصدر څخه دمصدري علامو پر ځای دفعلي ضمیرونو په راوړلو جوړیږي او دغه پنځه صیغې لري، لکه:

اورم، دمفرد دپاره - زه ستا خبره اورم.

اورو ، دجمع متکلّم دپاره - مونږ ستا خبره اورو.

اورې، دمفرد مخاطب دپاره - تاسې زما خبره اورې.

اوري، دغایب دټولو صیغو دپاره - دی زما خبره اوري.

دا زما خبره اوري.

**۲- مطلق حال:** په موجوده زمانه کې په مطلق حال دیوه کار په کولو دلالت کوي. مطلق حال داستمراري حال په سر کې د «و» په زیاتولو جوړیږي او دغه صیغې لري:

واورم، واورو ، واورې، واورئ، واوري.

**۳- امکاني حال:** په موجوده زمانه کې دیو کار په امکان او نه امکان دلالت کوي، امکاني حال د فعلي صفت په آخر کې د «شول» دامدادي فعل په گردانیدلو جوړیږي او دغه پنځه صیغې لري.

لکه:

اوریدلی شم، اوریدلای شو، اوریدلای شې، اوریدلای شئ، اوریدلای شي.

په تغییر منونکو مصدرونو کې د مصدر په اصلي ماده کې یو تغییر پیښیږي او بیا ورسره متصل ضمیرونه ګردانیږي. لکه:

غواړم، غواړو، غواړې، غواړئ، غواړي.

ګورم، ګورو، ګورې، ګورئ، ګوري.

د «ول» او «کول» والا مصدرونو استمراري او امکاني حال د «ل» والا مصدرونو په شان جوړیږي. یعنې په اول کې د «ل» پر ځای، متصل ضمیرونه ګردانیږي.

او په دوهم کې د فعلي صفت په پای کې د «شول» مصدر ګردانیږي.

لکه: استمراري حال، جوړوم، جوړوو، جوړوې، جوړوئ، جوړوي.

امکاني حال، جوړولای شم، جوړولای شو، جوړولای شې، جوړولای شئ، جوړولای شي.

مګر مطلق حال د فعلي مادې په پای کې د «کړل» د مصدر په ګردانیدلو جوړیږي. لکه: جوړ کړم، جوړ کړو، جوړ کړې، جوړ کړئ، جوړ کړي.

پخلا کیږم، پخلا کیږو، پخلا کیږې، پخلا کیږئ، پخلا کیږي.

د «یدل» او «کیدل» والا مصدرونو په استمراري حال کې یوازې «د» پر «ږ» بدلیږي او نوره قاعده یې د «ل» والا مصدرونو په شان ده، لکه:

جوړېږم، جوړېږو، جوړېږې، جوړېږئ، جوړېږي
پخلا کېږم، پخلا کېږو، پخلا کېږې، پخلا کېږئ، پخلا کېږي.

امکاني حال يې د والا مصدر په شان جوړېږي او د مصدري «ل» په پای کې «ی، ای» راوړل کېږي. لکه:

اوچتيدلای شم «تر آخره».

پورته کيدلای شم «تر آخره».

مطلق حال يې دفعلي مادې په آخر کې د «شول» په گردان جوړېږي، لکه:

جوړ شم، جوړ شو «تر آخره».

پخلا شم، پخلا شو «تر آخره».

يادگيرنه:

الف – په لام والا مصدرونو کې ځينې داسې دوه توکيز مصدرونه هم شته، چې مطلق حال يې دلهجې په فشار يعنې په خج اچولو جوړېږي، لکه:

ځملم، کښينم، پورې وځم، کښيوځم.

په دغو افعالو کې که چيرې خج او فشار په لومړي څپه راشي، مطلق حال دی او که په دوهمه يا دريمه څپه راشي، نو استمراري حال دی.

ب – د تلل او راتلل د مصدرونو مطلق حال د مادې په تغيير بې قانونه «ولاړ شم، راشم» جوړېږي.

# مستقبل او امر

۵۲- **مستقبل** هغه کلمه ده ، چې په راتلونکې زمانه کې د یو کار په کولو دلالت کوی. لکه: وبه یې لیکم، وبه یې وینم، وبه یې لولم.

مستقبل هم د حال په شان درې صورتونه لری:

استمراری، مطلق او امکانی.

**الف- استمراری مستقبل:** داستمراری حال په آخر کې د «به» په زیاتولو جوړیږی او د حال په شان پنځه صیغې لری، لکه:

اورم به، اورو به ، اورې به، اوری به.

گورم به، گورو به، گورې به، گورئ به ، گوری به.

**ب- مطلق مستقبل:** دمطلق حال په منځ کې د «به» په زیاتولو جوړیږی، لکه: وبه غواړم، وبه لیکم، وبه گورم.

جوړ به یې کړم، جوړ به شم، پخلا به شم.

ځه به ملم، کې به نم، پورې به وځم، کې به وځم، لاړ به شم، را به شم.

یادگیرنه: مگر په جمله کې دغه د مستقبل علامه «به» دفاعل سرد نښتې راځی، لکه : زه به خپل وروړ ته خط لیکم.

مونږ به خپل ورور ته خط ولیکو.

موږ به خپل استاد ته کاغذ ولیکو.

ته به چا ته خط ولیکې.

تاسې به چا ته خط ولیکې ؟

دې به خپل پلار ته خط ولیکی.

دوی به خپل کاکا ته خط ولیکی.

**ج- امکانی مستقبل :** له امکانی حال څخه په دې ډول جوړیږی، چې په منځ کې یې «به» راوړل کیږی ، لکه: وبه یی لیدلای شی، وبه یې خوړلې شې، جوړ به یې کړای شی ؟

# د امر فعل

۵۳ - هغه کلمه ده چې د هغې په واسطه د یو کار د کولو حُکم کیږی دامر فعل باله شی. لکه: وگوره، کښینه، وساته.

حاضر امر په پښتو کې پر دوه ډوله دی:

یو استمراری او بل مطلق امر دی. استمراری امر له مصدر څخه ډیر اسان جوړیږی او د مصدر د «ل» پرځای، د مفرد د پاره «ه» او د جمع د پاره «ئ» راوړل کیږی او دغه وروسته صیغې لری:

ساته، ساتئ.

گوره، گورئ.

جوړوه، جوړوئ.

پخلا کوه، پخلا کوئ.

پخلا کیږه، پخلا کیږئ.

پاڅیږه، پاڅیږئ.

یادونه: دلته د حال غوندې د «یدل» (د) په (ږ) بدلیږی.

او مطلق امر په لام والا مصدرونو کې د استمراری امر په اول کې د «و» په راوړلو جوړیږی. لکه:

وساته، وساتئ.

وگوره، وگورئ.

یادگیرنه:

په لام والا مصدرونو کې دځینو دوه توکیزو مصدرونو مطلق امر دلهجې په فشار، یعنې په خج اچولو جوړیږی، لکه: څمله، کښینه،

پورې وځه، پاځېږه، بوځه.

په دغو افعالو کې که خج په لومړي څپه راشي، مطلق امر او که په دوهمه یا دریمه راشي، استمراري امر دی.

دراتلل او تلل د مصدر مطلق امر بې قانوني «راشه، ولاړ شه، راځی.

د «ول» والا او «کول» والا مصدرونو مطلق امر د «کړل» د مصدر په گردان سره جوړیږي. لکه:

جوړ کړه، جوړ کړئ، جوړ دې کړې.

پخلا کړه، پخلا کړئ، پخلا دې کړې.

د «یدل» او «کیدل» والا مصدرونو مطلق امر د «شول» د مصدر په گردانولو سره سازیږي. لکه:

سم شه، سم شئ، سم دې شې، پخلا شه، پخلا شئ، پخلا دې شې.

د غایب مطلق امر د پاره د مطلق حال په منځ کې «دې» اچول کیږي. لکه:

ودې ساتي، پخلا دې کړي.

جوړ دې کړ، پخلا دې کړي.

او د غایب استمراري امر د پاره د استمراري حال په آخر کې «دې» راوړل کیږي.

لکه:

گوري دې.

جوړوي دې.

## ماضی فعل

٥٤- د ماضی فعل هغې کلمې ته وایی، چې په تیره زمانه کې پر یو فعل دلالت کوی. لکه: ولوید، پاڅید، وساته او نور.

ماضی په پښتو کې د یر ډولونه لری او په وروسته ډول ښودل کیږی:

### ۱- استمراری ماضی:

چې په تیره زمانه کې د یو فعل دوام او استمرار ښیی. استمراری ماضی له مصدر څخه ډیره آسانه جوړیږی او د مصدر په پای کې متصل ضمیرونه ګردانیږی او د غه اته صیغې ځنې جوړیږی.

۱- ختلم - ختم د مفرد متکلّم د پاره.

۲- ختلو - د جمع متکلّم د پاره.

۳- ختلې - د مفرد مخاطب د پاره.

٤- ختلی - د جمع مخاطب د پاره.

٥- خوت- د مفرد مذکر د پاره.

٦- ختل - د جمع مُذکر د پاره.

۷- ختله - د مفرد مؤنث د پاره.

۸- ختلې - د جمع مؤنث د پاره.

د غه صیغې په جملو کې داسې ویل کیږی.

زه غرد ته ختم - ختلم.

مونږ ونې ته ختو.

ته ونې ته ختې.

تاسې ونې ته ختلئ.

دی بام ته خوت.

دوی بام ته ختل.

دا بام ته خته یا ختله.

دوی بام ته ختلې.

په متعدی افعالو کې دماضي گانو گردان دمفعول په واسطې سرته رسيږي، لکه:

زه ځلمی ليدلم «ليدم».

موږ ځلمي ليدلو.

ته ځلمي ليدلې.

تاسې ځلمي ليدلئ.

ما ځلمی، ليده.

ما ملالۍ، ليدله.

ما هلکان ليدل.

ما نجونې ليدلې.

نوټ – استمراری ماضي په پښتو کې همیشه دمصدر مادہ ساتی او هیڅکله په کې اساسی تغییر نه راځی. تردې چې په تغییر منونکو مصدرونو کې هم خپل شکل نه بدلوی. په دې لحاظ دماضی استمراری په لحاظ په پښتو کې یو بې قانونه مصدر هم نشته، لکه: د «راتلل، تلل» مصدرونه چې په نورو ماضی گانو کې تغییر کوی، مگر په ماضی استمراری کې تغییر نه کوی، لکه: تلم، راتلم او نور.

## ۲- مطلقه ماضی:

مطلقه ماضی هغه ده، چې په مطلق ډول په تیره زمانه کې د یو فعل په کولو دلالت کوي او کوم قید ترې نه معلومیږي. مطلقه ماضي د استمراري ماضي په سر کې د «و» په زیاتولو جوړیږي او اته صیغې لري. مثالونه یې دادي:

زه په باغ کې وګرځیدم.

مونږ په باغ کې وګرځیدو.

ته چیرې وګرځیدې؟

تاسې چیرې وګرځیدئ؟

دی په باغ کې وګرځید.

دوی په باغ کې وګرځیدل.

دا په باغ کې وګرځیده.

دوی په باغ کې وګرځیدې.

نوټ: د «راتلل او تلل» د مصدر و مطلقه ماضي بې قاعدې «راغی، او ولاړ» جوړیږي.

د «ول» او «کول» والا مصدرونو مطلقه ماضي د فعلي مادې په آخر کې د «کړل» د مصدر په ګردانولو جوړیږي. لکه:

جوړ کړم، جوړ کړو، جوړ کړې، جوړ کړئ، جوړ کړ، جوړ کړل، جوړه کړه، جوړې کړې.

د «یدل» والا او «کیدل» والا مصدرونو مطلقه ماضي د «شول» د مصدر په ګردان جوړیږي.

لکه: جوړ شوم، جوړ شو، جوړ شوې، جوړ شوئ، جوړ شو، جوړ شول
جوړه شوه، جوړې شوې. پخلا شوم. « تر آخره »

### ۳- نژدې ماضي:

په نژدې زمانه کې د یو کار په کولو دلالت کوي. نژدې ماضي دفعلي صفت په آخر کې د « یم، یو، یې، یئ، دې، ده، دی » په گردانولو جوړیږي. لکه:

ختلی یم، ختلی یو، ختلی یې، ختلی یئ، ختلی دې، ختلی ده، ختلی دی. رسیدلې یم، لیدلې یو، لیدلې یې، لیدلې یئ، لیدلی دی.

رسیدلی دی، لیدلې ده، لیدلې دی.

د « ول، یدل، کول او کیدل والا » مصدرونو نژدې ماضي هم دفعلي صفاتو په آخر کې د دغو کلمو په راوړلو جوړیږي. لکه:

جوړ کړې یم، تر آخره.
پخلا کړې یم، ایضاً
جوړ شوی یم، ایضاً
پخلا شوی یم، ایضاً

### ٤- لرې ماضي:

په لرې زمانه کې د یو کار په کولو دلالت کوي.

لرې ماضي دفعلي صفت په پای کې د « وم، وو، وې، وئ، و، وو، وه، وې » په گردانولو جوړیږي. لکه:

ختلې وم، ختلې وو، ختلې وې، ختلې وئ، ختلې و، ختلې وو، ختلې وه، ختلې وې.

لیدلې وم، تر آخره.

جوړ کړې وم، تر آخره.

پخلا کړې وم، تر آخره.

پخلا شوې وم، تر آخره.

## ۵- امکاني ماضي:

امکاني ماضي هغې ته وایي چې په تیره زمانه کې د یو کار امکان ښیي او پر دوه ډوله ده، استمراري او مطلقه.

امکاني استمراري ماضي د فعلي صفت په پای کې د «شوم، شوو، شوې شوئ، شو، شول، شوه، شوې» په گردانولو جوړیږي. لکه:

ختلای شوم، ختلای شوو، ختلای شوې، ختلای شوئ، ختلای شو، ختلای شول، ختلای شوه، ختلای شوې.

او مطلقه امکاني ماضي د امکاني استمراري ماضي په سر کې د «و» په زیاتولو جوړیږي، لکه:

وختلای شوم، وختلای شوو، وختلای شوې، وختلای شوئ، وختلای شو، وختلای شول، وختلای شوه، وختلای شوې.

## ٦- احتمالي ماضي:

په تیره زمانه کې په احتمالي ډول د یو کار په کولو دلالت کوي، احتمالي ماضي د فعلي صفت په پای کې د «به یم، به یو، به یې، به یئ، به یي» په گردانولو جوړیږي. لکه:

راغلې به یم، راغلې به یو، راغلې به یې، راغلې به یئ، راغلې به یي.

نوټ: د فعلي صفت په سر کې «دښایي، گوندي» د کلمو په راوړلو

هم احتمالي او شکیه ماضی جوړیږي. لکه:

ښایي راغلی وی، گوندی تللی وی.

په دې صورت کې يې په آخر کې یوازې «وی» راځي او غایب د پاره استعمالیږي.

## ۷- تمنایی ماضی:

په تیره زمانه کې دیو فعل د کولو آرزو ښکاره کوي، په تمنایی ماضي کې د فعلي صفت څخه وروسته «وای» او په سر کې يې «که، کاشکې» راځي. لکه: کاشکې زه هم تللې وای، که ته ورغلې وای، ښه به ؤ، زړه مې کیده، چې تللې وای.

## ۸- تأکیدی ماضی:

له لیرې ماضي څخه د فعلي صفت په آخر کې د «به» په زیاتولو جوړیږي.

لکه: راغلې به ؤ، تللې به وې.

## یادګیرنه:

کومې صیغې چې له فعلي صفت څخه جوړیږي، په هغو فعلي صفت د مفرد مُذکر د پاره په نرمه «ی» د مفرد مؤنث او جمع مؤنث د پاره په اوږده «ې» او د جمع مذکر د پاره په څرګنده «ی» راځي.

# قیود

۵۵- قیود ده هغه کلمې دی، چې د فعل سره یو ځای کیږی او هغه په یو حالت او وضعیت پورې مقید کوی. مثلاً په دې جمله کې «زلمی راغی»، هیڅ قید نشته او که وو وایو چې «زلمی په خندا راغی»، نو دلته یو بل شی هم پیدا شو چې دراتلو فعل یې په هغه پورې مقید کړ او هغه دخندا حالت دی.

قیود په پښتو کې ډیر قسمونه لری او د بیلو بیلو مقصدونو دپاره راځی، مشهور قسمونه یې دادی:

**۱- دزمانی قیود:** چې یو فعل ته دزمانې او وخت قید ورکوی.

لکه: پرون ولاړم، اوس راغلم - زه همیشه خپل کار ته د وخته ځم هر کله راشې، هر کله اوسې.

**۲- دځای او مکان قیود:** لکه: دلته کښینه، پاس وخیژه، کښته کوز شه، نژدې راشه، وړاندې لاړشه.

**۳- دشک قیود:**

لکه: گوندی راشی، ښایی سبا ته ولاړ شم.

**٤- دعلت او سبب قیود:**

لکه: ځله ځې؟ ولې نه کښینې؟

**۵- د وضعیت او حالت قیود:** لکه: ژر ژر راځه، په منډه منډه ځه

ولې ورو ورو ځي؟

٥٦ - ځینې نور قیود هم شته چې د بیلو بیلو مقصدونو د پاره استعمالیږی او د فعل معنې ته یو معنوی قید ورکوی. لکه:

ناڅاپه ولاړ – سبا ته هرو مرو راشه، دا مضمون پر له پسې خبریږی پښتانه په سنگر نیغ ورخیژی او په دښمن مخامخ ورځی.

## یادگیرنه:

په پښتو کې صفات هم د قید په صورت استعمالیږی. لکه:

یوازې مه ځه، له ډېره سره ملگری ولاړ شه، پرون له ما نه پټ ولاړې.

زلمی هغلته غلی ناست دی.

کله یو صفت هم د بل صفت د پاره د قید وظیفه اجرا کوی.

لکه: زلمی ډیر تړی دی، دی لږ ناروغه دی.

دی ښې خوږې خبرې کوی.

# د ارتباط توری

۵۷ - د ارتباط توری په پښتو کې د دوو کلمو او دوو جملو تر منځ دنږدیوالي او ارتباط وظیفه اجرا کوی. لکه په دې جمله کې زلمی له کوره راغی، (له) دارتباط توری دی، چې د کور، زلمی او راغی تر منځ نږدیوالي او تعلق پیدا کوی. دارتباط توری ډیر قسمونه لری او دبیلو بیلو مطلبونو د پاره راځی. دارتباط اصلی توری دادی: «له، ته، په، کې، پر، تر، بې». ځینې نور توری هم شته چې کله ځانله او کله د تأکید په ډول استعمالیږی او هغه دادی:

«نه، څخه، ځنې، لره، کره، د پاره، باندې، کې، لاندې، پورې، په شان، غوندې، هسې، پسې» او نور.

مثالونه یې دادی: توریالی په کټ کې ناست دی. پر میز باندې څه پراته دی؟ بې علمه ژوندون گران دی. تر ورخه تیرې اوبه نه راگرځی. د زړه نه مې خدای خبر دی، دمنصور هسې په دار نشی رحمانه، له بازاره زه راغلم او دنرخه ته خبرېږې، اور له راغله د کور میرمن شوه. په اوبو پسې جونگی روان دی.

۵۸ - دعطف توری هم دارتباط وظیفه اجرا کوی، خو زیات د دوو جملو په منځ کې د ارتباط او تړون د پاره راځی. دعطف توری دادی:

او، یا، بیا، هم، پسې او نور. په جملو کې داسې ویل کیږی:

توریالی پاتې شو او زه راغلم. اول مې پر کړه بیا مې مړ کړه. یالو یو غروته ځه یا لویو کوروته، هم خُرما هم ثواب.

اول زلمی ځی پسې توریالی ځی.

۵۹ - په پښتو کې ځینې نور توری هم شته چې سر بیره په خپله

خاصو معنی گانو د عطف کار هم ځني اخيستل کيږی. لکه:
(بل، ترڅو، سره ددې، په تيره، که نه، سربيره، که څه هم، لکه چې او نور)، مثالونه دادی:

يو مې دلبر ځی بل رانه زړه وړی – زړه مې په داوړی، څه دلبر نومی.

زه پرون راغلی وم، لکه چې په کور کې نه وې.

باران ډير وشو سره ددې هوا گرمه ده.

تا ته ودريدم که نه اوس به رسيدلې وم.

لرگی هر وخت ضروری دی په تيره په ژمی کې.

کار ډير کوم، خو څوک نه خوښيږی.

٦٠– په پښتو کې د ندا، تعجب او افسوس توری د کلمو په سر کې راځی او يوازې د ندا تعجب افسوس مقصد ادا کوی. لکه:

ای وروره! او هلکه! هی هی دا څه چل وشو! – او هو څومره خلک راغلی دی! اوف خدايه مړ شوم!

سربيره پر دې په پښتو کې د قسم، تشبيه، تنبيه، شک، تاکيد، بيان او شرط توری هم شته. لکه: خدای ړو دروغ نه وايم. څنگه غږ همغسې ځناور، ماوې عين گنه گل دی د غونچې په لمن نغښتی.

دا سړی بيخی ليونی دی.

گوندی زلمی نن راشی.

که ته راغلې، زه به هم راشم.

ځلمی وايی، چې زه به ستا کار وکړم.

٦١– د نفی توری په پښتو کې دادی. (نه، مه، نا، بې).

لکه: نه گوری، نه دی راغلی، مه کوه – مه راځه، نابللی، ناروغ.

## کلام او جمله

٦٢- کلام پر دوه ډوله دی: یو نیمګړی دی او بل پوره کلام. که د یوې خبرې څخه مخاطب ته پوره فایده نه رسي، هغه خبره نیمګړی ده.

لکه: دزلمي ورور، سره زر، او کومه خبره چې بل ترې پوره مطلب واخلي، پوره کلام بلل کیږی. لکه: د زلمي ورور راغلی دی.

داخبره سره زر ده. پوره خبرې او کلام ته جمله وایی.

**٦٣- په پښتو کې دجملې مشهور قسمونه دادي:**

**١- امریه جمله:** - چې مطلب پکښې دیوه کار غوښتل وی.

لکه: چای وچښه، ډوډی وخوره، خط ولیکه.

**٢- استفهامیه جمله:** چې مطلب پکښې د یو شی پوښتنه وی.

لکه: دغه سړی څه نومیږی؟ ستا کور چیرې دی؟

**٣- خبریه جمله:** هغه ده چې د یو شی له حال او کیفیت څخه حکایت کوی. لکه: دغه سړی زمرک نومیږی. زما کور په ښار کې دی.

**٤- بیانیه جمله:** هغه ده، چې دبلې جملې حال بیانوی.

لکه: پرون مې واوریدل چې د پښتو کامیابانو ته انعام ورکوی.

ښارو یوه مرغۍ ده، چې خبرې هم زده کولای شي.

مری او استفهامی جملو ته انشائیه جملې هم وایی.

٥- کومه جمله چې له بلې سره ارتباط نه لری، هغه مفرده جمله بولی او کومه جمله چې له بلې سره تړلې وی، مرکبه جمله بلل کیږی. په پښتو کې ټولې جملې د اسمی او فعلی په نومو ویشل کیږی. فعلی جملې په پښتو کې ډیری دی.

**٦-فعليه جمله:** هغه ده، چې له فعل او فاعل څخه جوړه شوې وي.
لکه: زلمی راغلی دی، توریالی تللی دی، زه ځم، زه به اوس ولاړ شم او په متعدي افعالو کې مفعول هم ورسره راځي. لکه:
زلمي زما خبره واوریده. ده یو ښه قلم واخیست. دې د پلار خبره اوري
**٧-اسميه جمله:** هغې ته وایې چې پوره فعل پکښې نه وي او له مبتدا او خبر او نیمګړي فعل څخه جوړه شوې وي. نیمګړي فعلونه په پښتو کې دادي، چې د ربط کلمې هم ورته وایي. ( دی، ده، دې، وم، وو، تر، آخره، یم، یو تر آخره ).
د اسمي جملو مثالونه دادي:
حمید یو نازکخیال شاعر دی. نازو انا یوه پوهه میرمن وه.
زه په دې خبره پوه یم. زه پرون د لته ناست وم.
٦٤- په پښتو کې متعدي فعل په ماضیه افعالو کې د مفعول او په حالیه افعالو کې د فاعل تابع دی او په لازمي افعالو کې تل د فاعل تابع دی. یعنې په تذکیر، تأنیث، افراد او جمع کې په اول کې د مفعول او په دوهم کې د فاعل متابعت کوي. مثالونه دادي:
**ماضیه افعال:** ما زلمی ولید. ما رحیمه ولیدله. رحیمه ما ولیده.
ما هلکان ولیدل. هلکان ما ولیدل. ما نجونې ولیدلې.
زه زلمي ولیدم. موږ زلمي ولیدو. ته زلمي ولیدې. تاسې زلمي ولیدې.
**حالیه افعال:** زه ځلمی وینم. زه ملالۍ وینم. موږ ځلمی وینو.
**لازمي افعال:** ځلمی پاڅید. دی بام ته خیژي.
زه بام ته خیژم. موږ بام ته خیژو.
٦٥- که د یو فعل د پاره دوه فاعله یا دوه مفعوله د عطف په صورت

راشي ، چې يو مُذکر وي، بل مؤنث ، نو فعل دمُذکر تابع دی او فعل دجمع مُذکر په شکل راځي.

لکه: زلمي او ملالۍ له مکتبه راغلل- چای او بوره مې واخيستل.

که چيرې فاعل او يا مفعول جمع وي او دعطف په صورت کې راشي، نو فعل دنژدې فاعل يا مفعول تابع گڼل کيږي. لکه:

هلکان او نجونه اوس له مکتبه راغلي - نجونه او هلکان له مکتبه راغلل- دوی دوه خټکي او دوې هندوانې وخوړې.

دوی دوې هندوانې او دوه خټکي وخوړل.

٦٦- په اسميه جمله کې که چيرې مبتدا او خبر دواړه نومونه وي، نو دربط کلمې دنژيوالې له امله دخبر تابع دی. لکه:

پوهه يو قوت دی، علم يوه رڼا ده ، ادب دخبرو مالگه ده.

دروغ بد عادت دی. او که چيرې دواړه نومونه نه وي، بلکې يو صفت او بل اسم وي، نو دربط کلمې دنوم تابع کيږي . مبتدا وي او که خبر.

لکه: دا خبره سره زر ده. داکور تياره دی. دروغ ناروا دی. يوه هفته اوه ورځې ده. اوه ورځې يوه هفته ده.

که په اسميه جمله کې مبتدا او خبر دعطف په صورت يوه نومونه راشي، نو صفات او دربط توری دنژدې کلمې تابع گڼل کيږي.

لکه: دده په شعر کې زيات جوش او جذبه پرته ده.

((( ***** )))

# دوهمه برخه

## لیک دود

پاک خدای (ج) انسان ته دوینا او خبرو کولو ستر قوت وربښلی دی. دغه قوت دانسان لوړ امتیاز او دانسان او حیوان دبیلتون غټه نښه ده. کومې خبرې یا کوم معنې وال غږونه، چې دانسان له خولې څخه وځی، که چیرې دعلامو او توو په چوکاټ کې څرګند شی لیکلی ژبه ورته وایی او که نه، دوینا ژبه بلل کیږی.

نو په دې حساب ژبه په دوه ډوله ده: یوه دلیک ژبه ده او بله دوینا ژبه ده. یعنې یوه تحریری ژبه ده او بله تقریری.

د تقریری ژبې تاریخ ډیر لرغونې او دانسان دپیدایښت سره سم دی مګر دلیک تاریخ وروستنی دی، خو سره ددې هم دلیک او خط پیدا کیدو رسا تاریخ چاته معلوم نه دی. هو! دومره خبره معلومه ده، چې په لومړی سر کې انسانانو دشیانو د ښودلو دپاره دهغو شیرې رسم کولې او دمعانیو دښودلو دپاره به یې هم له انځورونو څخه کار اخست. بیا وروسته له شیرو څخه خبره تښنو او علامو ته راورسیده او پس له هغه دغږونو دښودلو دپاره توری او حروف جوړ شول. وایی چې لومړی انځوروال خط دمصریانو له خوا او نښه وال لیک دفنیکیانو او سومریانو له خوا منځ ته راغلی دی.

او له دغو لیکونو څخه دنړی نور لیکونه راوتلې دی. دفنیکیانو له الفبې څخه یونانی، لاتینی او د اروپایانو لیکونه زیږیدلی دی او د سومریانو له میخی لیک څخه اوستایی، پهلوی او دختیځ نور لیکونه پیدا شوی دی. تر اسلام دمخه د پښتونخوا مشهور خط خروشتی یا

(گروتیَ) لیک ؤ، چې دورد گو په (خواث) ، دننگرهار په (درونتهه) او هډه او د پیښور په شاهبان گړه کې یې نمونې او بیلگې موندل شویدي.

دگروتی لیک دود دگریو او جنفر په شان دی او دسومری خط مخالف شکل یې غوره کړی دی ، ولې چې: دغه خط دمیخونو په شان اوږده نیغ شکلونه لري.

دکنشکا دزمانې په کتیبو کې ددغه لیک نمونې پیدا شوی دی.

سرویلیم جونز انگریز دبنگال دایشیایی ټولنې غړی دخروشتی لیک په باب وایي: چې دخروشتی لیک ژبه د آریانا ژبه ده او کـه چیرې په پښتو ژبه کې چې د آریانا محلی ژبه ده، غور او څیړنه وشی، نو ښایی چې یو وخت ددغې ژبې په کومک خروشتی ډبرلیکونه ولوستل شی.(۱)

دی وایي چې دغه لیک د آریانا په ټولو برخو کې رواج ؤ.

(ترؤر) نومی روسی پوهاند هم وایی چې خروشتی لیک دهندوکُش په سویلی خواو کې مستعمل ؤ او له ښي خوا نه کینې خوا ته لیکل کیده. (۲)

دخروشتی لیک په باره کې تازه او نوی معلومات په دې ډول دی:

دکروتهی لیک دود کتیبې په گندهارا (ختیځ افغانستان) او پنجاب کې پیدا شوی دی. دغه لیک دود د راجه اشوک په زمانې پورې اړه لري «۳۰۰ ق، م» . دغه لیک دود له ښي خوانه کینې خواته لیکل کیږی.

پخوا دا خیال کیده، چې خروشتی لیک دود له سامی لیک دود څخه اخیستل شوی دی، مگر اوس معلومه شوې ده، چې دمهنجو دارو دزمانې لیک دود (۴۰۰۰ ق، م) هم له ښي خوانه کینې خوا ته لیکل

---

(۱) - دافغانستان تاریخ، دوهم ټوک - ۲۹۰ مخ.

(۲) - تاریخ افغانستان، دوهم ټوک، ص - ۱۰۹

کیده ، نو ځکه له سامي ژبې سره د کروشتي لیک دود نښلول خوشې او بې معنې خبره ده. د« ۳۰۰ ق، م» څخه دمخه هم د کروشتي لیک دود کتیبې موندل شوې دي. د راجه اشوک په دیرشو کتیبو کې دوه په کروشتي لیک دود دي، په دې لیک دود کې د غه څلور هندسي د عمودي لیکو په ډول راغلي دي:

/// - //// - /////

او د غه هندسي کټ مټ د موهنجو دارو د زمانې په کتیبو کې هم لیدل شوي دي، حال دا دی چې د دواړو د زمانې ترمنځ درې نیم زره کاله توپیر دی. (۱)

په هر صورت د پښتونخوا دزاړه لیک شکل هر څنګه چې و ، خو هغه لیک د اسلام تر راتلو وروسته له منځه ولاړ او په ځای یې عربي لیک منځ ته راغلی.

لومړی پارسي ژبه د عربي لیک په چوکاټ پر یو تله او وروسته پښتو ژبې هم دغه جامه واغوستله. د عربي لیک په سلسله کې څو ډوله لیکونه میدان ته راووتل، لکه: نسخ، تعلیق، ثلث، رقاع او نور. زیات شهرت پکښې نسخ وموند.

په پارسي کې نستعلیق رواج پیدا کړ، چې د عربي له نسخ او تعلیق څخه جوړ شوی دی. لاکن پښتو ژبې دغه دواړه لیکونه وساتل، له پخوا زمانې څخه تراوسه پورې پښتو هم په نسخ لیکلی کیږي او هم په نستعلیق. مطلب دا چې پښتو ژبه د اسلام تر راتلو وروسته د عربي لیک په چوکاټ کې ولویده ، مګر هر کله چې دغه چوکاټ د پښتو ژبې د ټولو غږونو ښودلو د پاره تنګ ؤ ، نو ځکه په عربي الفبې کې ځینې سمونې هم

---

(۱) - د نیا دور مجله - جنوري ۱۹۶۲ ع، د لکنهو چاپ - د کرامت علي مقاله.

وشوې او د پښتو دخاصو غړونو دپاره ځينې نښې او علامې هم جوړې شوې. وايي چې دغه سمون دسلطان محمود غزنوي دنوميالي وزير حسن مومندي په وينا دقاضي سيف الله له خوا شوی دی او دده د پښتو دخاصو تورو دپاره گوښې نښانې ټاکلې دي. (١)

ميا روښان هم په پښتو ليک دود کې څه ناڅه سمون راوستې دی.

وايي چې دده دپښتو ليک دود په باره کې يوه رساله ليکلې وه. دغه شان خوشحال خان هم دپښتو ليک دود په سمون کې گوتې وهلې دي او يو راز زنځيرۍ ليک يې راويستلی و، چې دلنډ ليک په نامه ياديده. تردغه وروسته هم دپښتو دځينو غړونو په ليکلو کې څه ناڅه بدلون پيښ شوی دی، مگر ډير ژر يې بيا خپل اصلي رنگ غوره کړی دی.

دمثال په ډول دپښتو «ځ» څه زمانه د «څ» په شکل ليکل کيده، بيا ځينو کسانو د «ج» په ډول هم وليکله، خو آخر يې خپل پخوانی شکل «ځ» ټينگ کړ، ولې چې دغه شکل دتذکرة الاولياء په زړه قلمي نسخه کې هم ليدل کيږي. دغه شان دپښتو دمفردو مرکبو کلمو په ليک دود کې هم ډير تغييرونه پيښ شوي دي، خو ډير ژر خپل اصلي شکل ته ورگرځيدلي دي. دغه دوره په لنډه تيره شوې ده. موږ دلته دپښتو الفبې يا د پښتو ليک دود کومه تاريخچه نه راسپړو، خالي غواړو چې دپښتو اوسنی منلی ليک دود په لنډ ډول وښيو، ترڅو چې نوي ليکوال او دپښتو دزده کړې مينان ورځنې گټه واخلي او په آسانۍ دپښتو دخاصو تورو او ځينو کلمو له ليک دود سره آشنا شي.

---

(١) - مرآة الانساب

# لیک دود

## د تورو لیکنه

۱- د پښتو ژبې د الفبې ټول توري دیرش او په دې ډول کیږي.

ا ، ب ، پ ، ت ، ټ ، ج ، چ ، ځ ، څ ، خ ، د ، ډ ، ر ، ړ ، ز ، ژ ، ږ ، س ، ش ، ښ ، غ ، ک ، گ ، ل ، م ، ن ، ڼ ، و ، ه ، ی.

لکه په دې کلمو کې: اس ، باغ ، پلار ، تور ، ټولگی ، جام ، چوکۍ ، څراغ ، ختکی ، ځمکه ، دیوال ، ډوډۍ ، رڼا ، ړوند ، زنه ، ژبه ، ږلۍ ، گولۍ ، سترگه ، شپه ، ښځه ، غاښ ، کور ، گوته ، لاس ، مخ ، نوم ، کوڼ ، ونه ، هلک ، یرغل.

۲- په پښتو کې د عربی لس توری هم په مستعار ډول ، یعنې د عربی په دخیلو کلمو کې استعمالیږی او هغه دا دی: « ث ، ح ، ذ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ع ، ف ، ق » ، لکه په دې کلمو کې:

ثواب ، حرف ، ذلت ، صبر ، ضرر ، طالب ، ظالم ، عالم ، لفظ ، قبیله.

۳- د پښتو درانه توری چې په ډبل او غټ آواز ویل کیږی ، په لیکلو کې یوه ځانله نښه لری ، یعنې د لاندې خوا نه کړۍ یا چپه غړوندی (۷) ورکول کیږی. لکه: « ټ ، ډ ، ړ ، گ ، ڼ ». (ڼ) پخوا د (نړ) په شکل هم لیکل شوی دی ، خو اوس یې د غه بسیط شکل غوره گڼل شوی دی.

یادونه: د پښتو د کلمو (گ) د فارسی د (گ) په شان لیکل بې ضرورته او بې فایدې کار دی ، ښایی چې د پښتو لیک دود سره سم (گ) ولیکل شی.

٤- د پښتو څلور نور مخصوص توری چې په فارسی کې نه شته ، هم

ځانله شکلونه لري، لکه: ځ، چې د «ح»د پاسه درې ټکي لري.
«ځ» چې د «ح» د پاسه وړوکي همزه لري.
ږ - چې لاندې باندې یو ټکی لري ،دا توري د دوو سترو لهجوښکاره کوونکی دی، یعنې هم د (ږ) دغږ نمایندګي کوي او هم د (ګ) د غږ.
او دا په لیک دود کې د دوو لهجو دیووالې ډیره ښه نمونه دد.
ښ - چې د «س» لاندې باندې یو یو ټکی لري، دا توری هم د دوو سترو لهجو ښکارندوی دی، یعنې هم د (ش) دغږ نمایندګي کوي او هم د (خ) د غږ.
یادونه: په اصل کې دغه دوارړه توری ځانله خاص غږونه لري ، چې د پکتیا په سیمو اړ نورو ځایو کې ویل کیږي ، مګر په نورو برخو کې د ګاونډیو ژبو د اغیزې له امله غږونه په نورو ورسره نژدې غږونو بدل شوي دي.
٥ - په پښتو کې څلور خوځندي موجود دي ، چې د ښو او علامو په واسطه ښودل کیږي او په وروسته ډول بیانیږي:
**الـــف:** زوړ یو کومکی خوځندی دی، چې د کلمې په سر او منځ کې د پاسنی پروت کش (-) په واسطه او د کلمې په پای کې په لویه (هـ) ښودل کیږي ، لکه: بل، مل، یرغل، (د کلمې په سر او منځ کې) ګوته، چرګه ، (د کلمې په پای کې) .
یادونه: دمنځنۍ دورې په ځینو قلمی نسخو کې دغه زوړ هم د کش په شکل لیکل شوی دی . لکه: ګوت، جرګـه. مګر اوس دغـه شکل بیخی نشته.
**ب: زورکـــی:** - یو کومکی خوځندی دی، چې د کلمې په سر او منځ کې د پاسنی ځنګ ځن کش (/) په واسطه ښودل کیږي او د کلمې په پای

کې په کوچنۍ (هـ) لیکل کیږی. لکه: تل ،شل، اچول ، دکلمو په سر او منځ کې نیکه -زره، دکلمې په پای کې.

یادونه: پ لره پښتونخوا کې دزورکی دښودلو دپاره (ٔ) لیکی. لکه: : شل ، زرۀ.

**ج -زیر:** یو کومکی خوځندی دی، چې دلاندینی پروت کش (-) په واسطه ښودل کیږی، مګر اوس دپښتو کلمو په سر کې دغه غږ او نښه نه راځی او دنورو ژبو په دخیلو کلمو کې په دې ډول لیکل کیږی: ګل ،عالم

**د- پیښ:** یو کومکی خوځندی دی، چې دکوچنی واو په شکل دتوری دپاسه لیکل کیږی، مګر دا نښه هم دعربی او فارسی په دخیلو کلمو کې راځی، لکه: مل، تجاهل او په خپله پښتو کلمو کې اوس په (و) لیکل کیږی ، لکه: لومړی، غونډ.

٦- په پښتو کې په وچ توری باندې غږوندی لیکل کیږی. لکه: ستوری ، زرہ ، خپل.

٧- په پښتو کې څلور کومکی غږونه او توری هم موجود دی، چې ځانله ځیرې او نښې لری او په وروسته ډول ښودل کیږی:

٨- (١) الف په اصل کې یو اوږد زور دی، چې دکلمې په منځ او پای کې لیکل کیږی:

لاندې، باندې، ژړا ، خندا .....

٩- (و) وچ واو په پښتو کې پر څلور ډوله دی:

**الف-** نرم واو چې دمخه توری یې زور لری او دپاسه پرې چپه غږوندی (، ) لیکل کیږی. لکه: لوٚ ، کنډوٚ ، ډوٚل.

**ب-** څرګند واو چې دمخه توری یې دروند او څرګند پیښ لری او د پاسه پرې (ٔ) لیکل کیږی. لکه: کچالؤ ، تالؤ ، ګؤر ، سؤر.

ج- اوږد واو، چې د مخه توری یې اوږد پېښ وی او د پاسه پرې چپه پېښ ( ، ) لیکل کیږی. لکه: زانګو، پېشو، تور، کور، زوی، سوی.

یادونه: ښاغلی عبدالصمد خان اڅکزی د غو واوونو ته، ځانله نښې ورکوی، یعنې څرګند واو ته لاندینی کش او اوږد واو ته لاندې یوه کړۍ ورکوی، لکه: پښتو، پوه، سور، لور.

د - کوچنی واو (واوکی) چې د مخه یې سپک لنډ پېښ وی او په سر یې هیڅ نه لیکل کیږی. لکه: (لومړی، پوښتنه، تاسو، لوبه، وشو، اوس.

یادونه: د کلمې په منځ کې هم یو ډول واوکی راځی، لکه:

په (ګوټ=ګوشنه، ګوډ =لنګ، ګوت=ګول) کې، مګر دا واو کله په نیم حرکت هم ویل کیږی.

۱۰- (ی) په پښتو کې پر پنځه ډوله ده:

الف- نرمه «ی» «یـ»، چې د مخه یې زور وی او د پاسه پرې چپه غبروندی (و) لیکل کیږی. لکه: لرګی، منګی، سیل دا (ی) د کلمې په منځ کې ډیره راځی.

ب- څرګنده «ی»، چې د مخه یې دروند او څرګند زیر وی، لاندې ښنګ په ښنګ دوه ټکی /‥/ لیکل کیږی. لکه: ځیر، دوبی، دوستی

ج- اوږده «ې»، چې د مخه یې اوږد زیر وی، لاندې ترې سر په سر دوه تکی لیکل کیږی. لکه: تیل، خیل، منې، تختې.

د - کوچنی (ی) «یاګۍ»، چې د مخه یې سپک لنډ زیر وی. دا «ی» د کلمې په آخر کې راځی او نښه نه لری.

مګر ځینې کسان یې ګرده «ی» لیکی او ځینې کسان لاندې اوږده لمن ورکوی، لکه: لاندی، تری، پاتی.

هـ- زورکی واله «ۍ» چې د مخه ترې زورکی وی او په پای کې یوه

کش ورکول کیږي. لکه: چوکۍ، خولۍ، مانۍ.

په افعالو کې د دغسې «ی» د پاسه (ٔ) لیکل کیږي.

لکه: پاڅئ، ودرېږئ او نور.

۱۱- **هـ:** وچه «هـ» په پښتو کې پر دوه ډوله ده:

**الف-** څرګنده او لویه هـ، چې د مخه ترې زور وي. دا د عربي په ډول غټه لیکل کیږي. لکه: تخته، ښځه، زړه او نور.

**ب-** پټه او کوچنۍ هـ، چې د مخه ترې زور کې وي، د پارسي په شان کوچنۍ ګرده لیکل کیږي. لکه: کارغه، مارغه، زړه وراره.

یادونه: خوځنده (هـ) چې د کلمې په سر او منځ کې راځي، دغسې (هـ) لیکل کیږي، چې په پښتو کې یې چرګۍ هـ بولي، لکه: هو، هګۍ، هیر، پوهنه، سهار او په دې ډول هم لیکل کیږي: هو، سهر.

۱۲- په پښتو کې په ځینو غږونو باندې کله کله د آواز فشار او زور هم راځي چې په انګلیسي یې ایکسنټ او په پښتو یې (خج) بولي.

خج په یوه ځپېزه کلمه کې نه شي راتلای. خج په پښتو کې پر دوه ډوله دی: درونډ او سپک. لکه: په (غوټه) کې چې په لومړي ځپه درونډ او په دوهمه ځپه سپک خج دی.

د خج نښه کوچنۍ ګرده (د) ده او په دې ډول لیکل کیږي: غوټه، ملګري او نور.

۱۳- ډبل خوځندي په پښتو کې نشته. یوازې ډبل زور په پښتو کې لیکل کیږي. لکه: غالباً، مثلاً او نور.

* * * * *

# د کلمو لیکنه

د پښتو لیک دود بله برخه د کلمو سمه لیکنه ده. په دې برخه کې ځینې عمومي لارښودنې او اساسونه هم شته او ځینې خاصې لارښودنې هم لري، چې په وروسته ډول بیانیږي.

عمومي لارښودنې:

۱ - د پښتو کلمو په لیک دود کې د پخوانو پوهانو او لرغونو لیکوالو د لیک دود پیروي په کار ده. دغه لیک دود د پښتو د زړو قلمي نسخو او کتابونو تر کتنې څخه وروسته معلومیږي. لکه د (اوس - اودس) کلمې چې په زړو نسخو کې دغه ډول لیکل شوي دي: د (هوس - آیاست) په شکل یې لیکل ښه نه دي.

۲ - د پښتو د گرامري قاعدو متابعت او منښه، چې دا هم د کلمو د لیکلو د پاره یو لوی اساس دی. لکه د (کوي، وکړ) فعلونه چې د قاعدې له مخې د (کول، کړل) له مصدرو څخه جوړیږي او په کار دي، چې د قاعدې له مخې دغه شان ولیکل شي: د (کا - وکه) په صورت یې لیکل د مصدر له فعلي مادې څخه مخالفت کول دي.

۳ - بل د لُغت ریښه او ایره لټول هم یو پوخ اساس گڼل کیږي، لکه: (یولکه، یوازې، استازې)، چې له (ول، یو، استول) څخه جوړ شوي دي او (که، ازی) یکښې د لاحقو شکل لري. دغه دواړه کلمې د صفت حیثیت لري او ظرفي نوموونه ندي، نو ځکه په (ځ) باندې لیکل یې اوس سم نه بریښي. یاهگی چې اصلي ریښه یې (ها) ده، نو ښایي چې په (د) ولیکل شي. دغه شان (اوری - بیره) په الف لیکل په کار دي. ولې چې اصل کې (اور + ی) ده، چې داور غوندې سور والې لري.

٤- بل د التباس او پوشان والي ليري کول دي، چې دا هم يوه ضروري خبره ده. لکه: (ځور، ځړيدل)، چې د (زور، زړيدل) د التباس له کبله په (ځ) ليکل کيږي. دغه شان ښايي چې (ځيني او ځنې) چې لومړی ضمير او دوهم ادات دي، په ليک کې سره بيل کړی شي، يعنې ضمير د منځ په (ی) او ادات بې (ی) ليکل په کار دي. په دې ډول په (ويره - بيره) کې اول شکل ښه دی، ولې چې بيره د يوې ونې نوم هم دی.

٥- بل اساس د ليک او وينا تر منځ يووالي راوستل دي. د پښتو ژبې ليک او کښل تر ډيرې اندازې له وينا سره سم او يو شان دي، څه چې ويل کيږي هم هغه شان ليکل کيږي، نو ځکه ښايي چې د ليک او وينا تر منځ زيات بيلتون رانشي. لکه: (کومک، ښار، توتی) چې «کهمک، ښهر، طوطی» ليکل يې سم نه دي.

٦- بل د نورو ژبو له رنګ او بڼې څخه لرې کول هم يوه ضروري خبره ده، لکه: (منځ) چې له (مينځ) څخه غوره دی، ولې چې هغه د پارسی له ميان سره نژدې کيږي، دغه شان لاميو ځن - ښګارځن، په پښتو (ځ) ليکل کيږي. د (زن) په لاحقه (لامبوزن) پارسی رنګ پيدا کوي.

٧- هره کلمه ځانله او جلا ليکل په کار دي. يعنې ښايي چې يوه کلمه په ليک کې له بلې سره ونه نښلی که څه هم آدات او حروف وي، لکه: نه وې، نه ګورې، مه کوه، مه کړه، له ده نه، له هغه څخه، په خير، په شان، نه خوري، نه شي، نه کړي.

مګر ځينې کلمې چې د يوې کلمې شکل يې غوره کړی وي، له دې قاعدې څخه وتلې دي. لکه: (پکښې، ځانله، تولواک، نشته).

٨- ښايي چې ډير عاميانه تخفيف او وينا ته اهميت ورنه کړی شي.

لکه: (واخله، څه کوې)، پرځای (واخه، څه کئ) لیکل غلط دی.

۹- د پښتو په خپلو کلمو کې د عربي خاص توری لکه: (ق،ع، ط، او نوری) نه راځي، نو ځکه د پښتو خپلې کلمې، لکه: (ټوکه، پړک، ټک) په عربي تورو (توقه، پرق، تق) لیکل سم نه دی.

۱۰- د پښتو نومونه او کلمې په زور د عربي او پارسي په رنګ لیکل، یعنې درنول او حلقې کول ناسم او بې ځایه کار دی، لکه چې ځینې کسان د (ځدران، ځاځي - کږه، کڅ - اپریدی، مومند، سدوزی، سهاک زی، لوګر، سوات، تورخم) نومونه په لوی لاس غلتوی او (جدران، جاجی، کجه، کج، افریدی، مهمند، سدوزایی، اسحاق زایی، لهوګرد، مسعود، صوات، طورخم) لیکي. دغه کلمې په مفرس او معرب ډول یعنې د پارسي او عربي په شکل لیکل یو بې معنې او غلط کار دی. (۱)

ښایي چې په خپل پښتنې شکل ولیکل شي، ځکه دغه ډول لیکل نه دوینا له مخې سم دی او نه د ریښې له مخې.

۱۱- دیوې کلمې په لیکلو کې تل سپیڅلې او عمومي لهجې ته کتل، په کار دی. مثلاً: د (موټر) په ځای، (میټر). د «غابښ» په ځای، «ګابښ» لیکل، له سپیڅلې او عمومي لهجې څخه ګرځیدل دی.

۱۲- ښایي چې یوه کلمه تل په یوه شکل ولیکل شي، ولې چې یوه کلمه په څو ډوله لیکل دناپوهۍ او شکمنی نښه ده، لکه: داور کلمه چې د کوزې پښتونخوا ځینې کسان یې کله (هور)، کله «وور»، کله «اور»

---

(۱) -دا کار زیات دعربي داثر په وجه دملایانو له خوا شوی دی.

لیکي.

۱۳- ښایي چې دیوې کلمې په لیکلو کې ادبي لهجې ته زیات اهمیت ورکړ شي.

لکه د مور په ځای (میر) د (راشه) په ځای (روشه)، د (هلکان) په ځای (هلوکان) د (ځلرم) په ځای (ځلورم) ادبي لهجه نه ده.

یادگیرنه: د پښتو په زړو قلمي نسخو او دیوانو کې تر ډیره حده پورې دلیک دود دیووالي خیال ساتل شوی دی: د احمد شاه بابا او رحمان بابا د دیوانو لیک دود یو شان دی. دغو دواړو باباگانو یوه ادبي لهجه درلوده. (۱)

ددوی په ژبه او لهجه کې څه بیلتون نشته، دا وجه ده چې ددوی په اشعارو هر پښتون په هر ځای کې پوهیږي. د مثال په ډول ددوی په دیوانونو کې دا کلمې (ورځ - ویره، شته، شي، شو)، یو شان لیکل شوي دي.

دغه وخت له کندهاره تر اټکه یوه ادبي لهجه موجوده وه، چې دغه ادبي یووالي په لیک دود کې پوره لیدل کیږي.

ددغه وخت په لیک دود کې دعام فهمي او عامي ادبي لهجې مراعات شوي دي، نو ځکه اوس هم دادبي یووالي په لیاره تلل او دیوه لیک دود دسلسلې تینگول، په کار دي.

که چیرې په یوه کلمه کې دوه درې علتونه یو ځای راشي، نو بیا گرامري قاعدې او د کلمې ریښې ته ترجیح ورکول په کار دي، لکه: په (لو پیاله، لویه پیاله کې) دوهم شکل د گرامر په اساس غوره دی. که

---

(۱) د ښاغلي الفت مقاله د کابل مجله، ٤٧٦ گڼه، ص-٥

سره ددې هم اشتباه لري نشي ، نو هغه وخت د نومیالو لیکوالو د لیک پیروي پکار ده.

## خاصې لارښوونې:

۱٤ - د (مې، دې، پرې، ترې) او داسې نورې کلمې چې په پای کې سپک زیر لري، تل په کوچنۍ «ی» لیکل کیږي. د (چه) توری هم دوینا له مخې (چې) لیکل په کار دی.

۱۵ - د ټولو پښتو کلمو سپک پیښ په (واوګی) لیکل کیږي. لکه: بوخت، لومړی، کوچنی، پوښتنه.

۱٦ - د پښتو (ښ، ږ) به په هغو کلمو کې لیکل کیږي، چې هلته په اول کې د (خ، ش) او په دوهم کې د ( ګ ،ژ) غږونه موجود دي، لکه: (ښځه، پښتو، غاښ، غوږ، ږیره، ږمنځ او نور).

۱۷ - په ټولو افعالو کې د مصدري (د) پرځای ، راتلونکی «ږ» دغسې (ږ) لیکل کیږي او په ( «ګ» یا « ژ ») باندې لیکل غلط دي.

لکه: پاځیږې، ځلیږې، دریږې، ودریږه او نور.

۱۸ - د تلل او وتل مصدرونو حالیه فعلونه په پښتو (ځ) لیکل کیږي. لکه: (ځی، وځی، راځه، پورې، وځې، کښېوځې، تیروځې)

۱۹ - د پښتو ټول افعال چې د سرینه (و) په زیاتولو جوړیږي، په هغو کې له (و) سره د (الف) لیکل غلط دي، لکه: وکوت، ولید، وګوره ، وخوره.

یادونه: دلرې پښتونخوا لیکوال (اوکوت) لیکي، مگر دا کوم گرامري اساس نه لري.

۲۰- تېرلې مطلقې ماضي گانې دمفرد مذکر غایب دپاره په موقوف صورت، یعنې بې له «ه، ی، و» لیکل کیږي.

لکه: وکوت، وغورزید، وچلید. د (ولیدې، ولیدو، ولیدلو) شکلونه پریښودل شوي او ناوړه گڼل شوي دي.

۲۱- په هغو کلمو کې چې د «ر، ز، ج» درې واړه تورو غږونه موجود وي، هلته یوازې «ژ» لیکل کیږي. لکه: ژمی، ژبه، ژور، ژړا، پیژندل. او «جمی، زمی» یا دغسې نور لیکل ښه نه دي.

۲۲- په کومو کلمو کې چې دپښتو د (ځ) پر ځای، په پارسي کې یا دپښتو په کومه بله لهجه کې «ج» موجود وي، هلته دپارسي «ز» لیکل سم نه دي، بلکې په پښتو «ځ» لیکل په کار دي. لکه:

(ځوان، ځای، ځنگل، ځار) چې په پارسي کې د (جوان، جای جنگل) او د پښتو په بله لهجه کې د (جار» په صورت ویل کیږي.

۲۳- د (ځنډ، ځله، ورځ، ځلمی) او داسې نورې کلمې د پخوانی لیک په اساس په (ځ) لیکل کیږي.

۲۴- په کومو کلمو کې چې د «څ» په ځای د «چه» لهجه موجوده وي، هلته د «څ» لیکل په کار دي او په «س» باندې لیکل غلط دي.

لکه: «څوک، څانگه» ولې چې بنگښ خلک، ورته (چوک چانگه) وایي، نو (سوک او سانگه) لیکل سم نه دي.

۲۵- دلرې ماضي ضمیرونه په دې وروسته ډول لیکل په کار دي:

(وم، وو، وي، وئ، واست ، ؤ، وه، وې).

۲٦- د «شول» د مصدر فعلونه په دې ډول ليکل کيږي:

«وشوم، وشوو، وشوې، وشوئ، وشو، وشول، وشوه، وشوې).

۲۷- د (زه ، زما، زمونږ) ضميرونه د «هوز» په «ز» سره ليکل کيږي. که په پښتو «ځ» وليکل شي، نو دامر له فعل (ځه) سره التباس پيدا کوي.

۲۸- د (لمبه، خمبه، چمبه، تمبل، سمبال) کلمې په «م» ليکل په کار دي او په (ن) باندې «لنبه، تر آخره» ليکل سم نه دي.

((( * * * * * )))

## د مستعارو کلمو لیکنه

په هره ژبه کې د نورو ژبو کلمې په مستعار ډول خامخا رانتوځي . په دې اساس په پښتو کې هم د عربي، پاړسي او نورو ژبو کلمې رانتوتې دي.

دغه مستعارې کلمې په دوه ډوله دي: یو ډول په خپل اصلي شکل او بل ډول یې په اوښتلي شکل لیکل کیږي.

**لومړی ډول:**

**الف** – د عربي ټولې علمي، مذهبي اصطلاح ګانې، نومونه او اعلام چې بې له کوم تغییره پښتو ته رانتوتي دي، په خپله اصلي بڼه لیکلي کیږي .لکه: صرف، نحو، منطق، معرفت، حج، زکوة، قبله، مدینه، قاهره، حمید، محمود .

**ب** – هغه کلمې چې په خواصو پورې اړه لري. یعنې استعمال یې عمومي او ډیر نه وي. په هغو کلمو کې هم بدلون نه راځي او په خپل شکل لیکل کیږي. لکه: قاضي، حاکم، عالم او نور.

**دوهم ډول:**

**الف** – هغه کلمې چې زیاتې استعمالیږي او ضرورت ورته ډیر وي په اوښتلې شکل لیکل کیږي. لکه:

وخت، خلک، کمیس، کاختي ، مازیګر، خامخا ، پتیر، مشال. چې اصل یې (وقت، خلق، قمیص، قحط، نماز دیګر، خواه نخواه، فطیر، مشعل » دي.

**ب** – هغه کلمې چې هم په کې معنوي او هم په کې لفظي تغییر راغلی

وی ، په اوښتلې شکل لیکل کیږي. لکه: اورته = عورت، ایسار = حصار.

ج - هغه کلمې چې استعمال یې عام وي او په منځ او پای کې یې ( ط، ص، ث، ع) راغلي وي. لکه: غلت، جوسه، خلاس - چې اصل یې (غلط، خطا، غصه، جوثه، خلاص) دي.

یادونه: دوهم ډول کلمو ته پښتو شوې کلمې وايي. په کومه کلمه کې چې دوه یا زیات عربي توري راشي، نو هغه تل د پښتو له ورسره نژدې تور واوړي. لکه: قمیص، قحط، چې د « کمیس ، کاختي » په شکل اوښتي دي.

د (قفل، قاشق، مصرع، طمع) کلمې اوس ( کولپ، کاچوغه، مسره، تمه) لیکل کیږي. په عمومي ډول « ص، ث » په « س، ط » په « ت، ق » په « ک، ذ ، ظ » په « ز، ع » په « الف » اوړي.

یوازې په « وخت، تاخ » کې « ق » په « خ » او په ( چاغ) کی « ق » په « غ » اوښتي دي.

بله مهمه خبره داده چې د پښتو یو څه کلمې چې ځینو کسانو په « ق، ص، ط، ع » لیکلي دي، هغه په اصل او ریښه کې پښتو دي او په غلطي مُعربي شوي دي.

نوځکه د غسې کلمې په خپل اصلي شکل لیکل په کار دي. لکه: (کتره، غیچي، کوتي، کیزه، کتار، کچر، کولبه، سابون، لال، مرکه) چې غلط شکل یې دادي: (قطره، قیچي، قطي، قطار، قچر، قلبه، صابون، لعل، معرکه).

# د لیک نښې نښانې

دلیک دود، دښه والي په لړ کې ځینې اشارې، علامې او نښې نښانې هم شته، چې په هره لیکنه کې دهغو خیال ساتل لازمي او ضروري دی، بې نښو نښانو لیکنه دلوستونکو د پاره ډېرې ګرانې پیښوي او په ځینو ځایو کې ترې سمه معنې هم نه اخیستل کیږي. له دې کبله غواړو چې دغه نښانې په لنډ ډول بیان کړو، تر څو چې دلیک دود لړۍ نیمګړې پاتې نشي.

۱ - **تمکی ( . )**: دا نښه دپوره جملو په پای کې ایښودل کیږي او د جملې تمام والي ښيي. لکه: له پروت زمري نه ګرځیده ګیدړ ښه دی.

(متل) نیک عمل دلاري مل. دې نښې ته ( تمکی ) وایو.

۲- **چپه پیښ ( ، )**: دا نښه دیوې لنډې وقفې د پاره په کاریږي، په یود کلمه یا جمله کې چې سړی غواړي لږ غوندې ځنډ وکړي، نو دغه نښه راوړل کیږي.

مګر زیاته د کلمو او نیمګړو خبرو تر منځ دعطف د پاره راځي. لکه: زلمی، توریالی، تورپیکۍ او ګل مکۍ په امتحان کې بریالي شول. خوشحال خان ختک د پښتو یو لوی شاعر، ستر ادیب او پوخ مفکر دی، دې نښې ته (ترونی) وایو.

۳ - **تکی او چپه پیښ (؛)**: دا نښه دزیاتې وقفې د پاره په کاریږي، مګر د کلمو تر منځ نه راځي، بلکې دهغو مرکبو جملو په منځ کې راوړل

کیږي، چې په معنی کې یو له بله تړلې وی. لکه: له هغه علم څخه چې اخلاق ورسره نه وی؛ ناپوهي غوره ده. (روسو)

دې نښې ته په پښتو کې څنډکی (څنډ نښه) وایو.

**٤ - دوه ټکي (:)** - دا نښه د یوې کلمې یا یوې جملې د سپړنې او څارنې علامه ده. یعنې د هغې کلمې یا جملې په پای کې لیکل کیږي، چې وروسته ورپسې شرح او تفصیل راځي. دې نښې ته (څرګندنی) وایو، لکه: د ژوندانه د کامیابۍ ستنې دا دي: پوهه، روغتیا، روزنه او اخلاق.

په پښتو کې ډیر لوی شاعران تیر شوي دي، لکه: ښکارندوی، ریدی خان، خوشحال خان او نور.

**٥ - (؟)** - دا نښه د سوال او د پوښتنې په وخت کې راوړل کیږي، یعنې د هر ډول سوالیه جملو په پای کې راځي. دې نښې ته (تپوسنی) ویلای شو، لکه: بې علمه علم څه په کار دی؟

**٦ - (!)** دا نښه د غږ او ندا په وخت کې په کاریږي، لکه:

ای ځلمیه! دلته راشه!

مګر په اصل کې د خبردارۍ او تنبیه نښه ده او په دې وجه د مخاطب امر په آخر کې هم راځي. لکه:

ورونیو ملا وتړئ! د وطن ناموس وساتئ!

دغه نښه د تعجب، شاباش او افسوس په ځای کې هم راوړل کیږي، یعنې په هر ځای کې چې خبرداری او تنبیه غرض وی، هلته ورځنې کار

اخستل کیږي، مگر د زیات تعجب او زیاتې خبرداري په وخت کې دوه ځله بلکې درې ځله لیکل کیږي. لکه:

آفرین! په دې توره او میړانه!!

افسوس! چې ډیر ښه وخت مې له لاسه ووت.

اوه څومره ښکلې مرغۍ ده!!

کله چې پوښتنه او تنبیه دواړه مطلب وي، نو د تپوس او تنبیه نښې دواړه یو ځای راځي. لکه:

دخدای دپاره دا څه حال دی ؟! دې نښې ته خوځکې ویلای شو.

**۷ - کش (-):** دا نښه دیوې جملې دبیلونې دپاره لیکل کیږي. په تیره په سوال او ځواب کې د هرې جملې په سر کې راځي او سوال او ځواب سره بیلوي، لکه: زلمي وویل: توریالیه څه کوې؟

- خت لیکم.

چاته؟

- خپل ورور ته.

دا نښه د دوو کلمو دبیلونې دپاره هم په داسې وخت کې راځي، چې هرې کلمې خپلواکې او ځانله والې مقصد وي. لکه:

صرف، نحو، بدیع، بیان معاني عروض دا ټول ژبنی علمونه دي.

دې نښې ته (بیلنی) ویلای شو.

**۸ - دوه غبرگ کشونه (=):** دا نښه د دوو نومو یا خبرو دبرابرۍ او مساوات ښودلو دپاره راځي. لکه: ۲+۲= ٤، دې نښې ته (سم سمی)

وايو.

**۹ - دوه کوتتې ختونه ( ):** دا نښه دخاصو نومو، دتوجه وړ شیانو او په منځ کې رالویدلو جملو د ښودلو د پاره لیکل کیږي. لکه:

زه غواړم سبا ته له زمري سره (چې زما یو ښه ملګري دی) دکابل موزیم وګورم. زما ورور (ببرک) په خپل ټولګي کې اول لمبر دی. دې نښې ته لیندۍ وایو.

**۱۰ - دوه غبرګې لیندکۍ « »:** د دې نښې په منځ کې د بل چا خبره، نظریه یا د یو کتاب عبارت او یا دزیاتې توجه وړ نا آشنا کلمه راوړل کیږي. لکه: سید جمال الدین وایي:

«هر پرهیزګار عالم چې د شریعت په اساس کې فکر وکړي، نو دا به ورته معلومه شي، چې دژوندانه پوهنې او علمونه له دین سره هیڅ مخالفت نه لري».

په دې ورځو کې د «مود» او «متود» کلمې ډیرې ګردانیږي.

**۱۱ - څوټکي (...):** کله چې یو لیکونکی د یوه نوم یا یوې خبرې څرګندول نه غواړي، نو په ځای یې یو څو ټکي ږدي او ورځنې تیریږي.

لکه: ماته د پښتو ... ښه معلوم دی.

**۱۲ - درې ستوري (*):** دا نښې د یوې رسالې یا یوې مقالې د یوې برخې د تمامیدو او د بلې برخې د شروع کیدو په منځ کې لیکل کیږي، یعنې یو بحث له بل څخه بیلوي.

**۱۳ -** که چیرې یو نوم یا یوه جمله په خاص ډول د پاملرنې وړ وي، نو

لاندې ترې يوه اوږده کرښه راښکل کيږي. لکه:

زلمی او توريالی زما کلک ملگــــري دي. ښاغلو! دلتــه دريــدل منع دي.

يادونه: دچاپ او کتاب دښايست دپاره ځينې نورې نښانې هم شته، خو هغه زياتې په چاپ خانو پورې اړه لري او په لاسی ليک دود کې ورځنې کار نه اخستل کيږي.

کله چې مضمون ختم شی او د پاڼې لاندې برخه څه قدر سپينه پاتې شي، نو درنگينې دپاره لاندې باندې درې کرښې يا درې ستورې يا کومه بله نښه ليکل کيږی او دا د هر چا په ځانله ذوق پوری اړه لری. (۱)-

(۱) - په ليک نښو کې يو څه لږه استفاده د (اصول تنقيط) له کوچنی رسالې څخه شوې ده، چې دمطبوعاتو په رياست کې دنشرياتو دڅانگې له خوا خپره شوې ده.

# دریمه برخه

## لیک ښود

په هره ژبه کې له لیک دود څخه وروسته د لیک ښود خبره منځ ته راځي. دلیک ښودنې مطلب دا دی چې څه رنګه لیکنه په کار ده. کوم ډول لیکل ښه دي؟ دښې لیکنې ښیګڼې کومې دي او مونږ کوم ډول لیکنې ته ښه لیکنه ویلای شو؟

ددې پوښتنو ځواب به په وروسته کرښو کې وګورئ.

مونږ دلته د لیک ښود کلمه دعربي انشاء په معنی اخلو. په عربي لغت کې انشاء دیو نوي شي دپیدا کولو په معنی راځي. په اصطلاح کې انشاء دې ته وایي چې سړی دخپلې پوهې په قوت، خپل خیال او فکر په ښو الفاظو او عباراتو کې ښکاره او څرګند کړي. مګر د لیک ښود مفهوم تر انشاء عام او پراخ دی. په لیک ښود کې هر راز لیکنه راتلای شي. نوی خیال وي او که زوړ، خو چې دبیانولو ډول یې خوندور او په زړه پورې وي. په یوه لیکنه کې دوه مهم اړخونه په نظر کې نیول کیږي: لومړی اړخ معنوي او دوهم اړخ یې لفظي دی.

په معنوي اړخ کې فکر، خیال، معنې او مقصد شاملیږي او په لفظي اړخ کې تورې، کلمې، عبارت او جملې راځي. نو دا دی مونږ په وروسته کرښو کې دغه دواړه خواوې څیړو او په دې موضوع باندې لږه ډیره رڼا اچوو، مګر دا خبره هم باید وکړو چې دلته زمونږ مقصد په عمومي لیکنه یا عام لیک ښود کې دی، یعنې مطلب دادی چې دعامې لیکوالۍ صفات، ښیګړې او لیارې چارې وښیو.

له دې عمومي کتنې څخه وروسته کيداى شي دليکوالي په خاصو ځانګو هم څه خبرې وکړو. دژبې يو غښتلې ليکونکى ديو پوه او تکړه ديوالګر مثال لري.

ديوالګر خښتې، ګټې او نور شيان اخلي او په پوره ذوق او خاص مهارت ورځنې ديوال جوړوي.

دغسې ليکوال هم توري، لغتونه، محاورې او اصلاح ګان سره يو ځاى کوي او په پوره ذوق او سليقه ورڅخه جملې او عبارتونه تياروي.

لکه چې ديوې خرابې تيږې په لګولو ديوال خراب او بې ډوله راځي، دغسې د يو سخت او شډل لغت په راوړلو هم عبارت او سبک بې خونده او بې ډوله کيږي.

د لغاتو زيږوالي او نا اشنايي دفصاحت او خوږوالي دښمنان دي، نو ځکه دليک ډول دښه والي لومړى شرط دښو الفاظو او لغاتو پيدا کول دي. ګرامري غلطي او خرابي هم يوه ليکنه بې خونده کوي او د بلاغت له دايرې څخه يې وباسي، نو ځکه دژبې دقاعدو او لارو پيژندنه هم يوه ضروري خبره ده. دغه شان رښتينې ذوق او ښه سليقه هم په دې لار د کې پوره کومک او مرسته کولاى شي. دښې او پخې ليکنې دپاره يوه ژوره علمي مطالعه، دپخو ليکوالو دکتابونو کتنه، ژور فکر او پوخ نظر په کار دي. دليکوالي دلومړى اساس او تادو همدغه ژور فکر او پوخ نظر دى. که چيرې په لومړى سر کې دموضوع په خوښونه کې ښه غور وشي، دمقصد او مطلب ټکي په دماغ کې راغونډ کړى شي او بيا ورته دکلمو او تورو په ښايسته چوکاټ کې ځاى ورکړى شي، نو خامخا به يوه ښه ليکنه منځ ته راشي. که په يو لنډ نظر ورته وګورو، نو ښه ليکنه هغه

ده، چې دژبې له خپل چوکاټ او رنګ څخه ونه وځي.

که چیرې مونږ په خپلو لیکنو کې د پښتو ژبې له اصلي چوکاټ څخه ونه وځو او د محاورې او خبرو اترو لمن پرې نه ږدو، نو مونږ به د لیک د ښه والي دپاره پوره خدمت کړی وي.

هر د زمانه او هر وخت د لیکلو ځانله سبک او ډول لري. دغه شان په هر وخت او زمانه کې ښه سبک هم وي او ناښه هم، وړ هم وي او ناوړه هم، نو ځکه د ښه او ناښه پیژندل د لیکوالو دپاره په توره شپه کې دلیت او مشال لري. دې کې شک نشته چې د پخوانو غښتلو لیکوالو سبکونه پاخه او خواږه وي، مګر د نویو او کوچنیو لیکونکو سبکونه پیکه او بې خونده وي.

دیوې ژبې لیک ډول همیشه د دغسې کسانو په لاس خرابیږي او په ژبه کې بې مزې عبارتونه او شهل لغتونه رانبوځي. دوی د ښه او ناښه، خوږ او ناخوږ توپیر نشي کولای. د اولس اصلي وراشه ورته نه وي معلومه، ذوق یې بې باوره وي، دژبې له اصلي قاعدو څخه ناخبر دوي، د پښتو له زړو ادبي کتابونو سره نا اشنا وي، د پخوانو استاذانو په لیار نه درومي، د وړ او ناوړ د خوښولو دپاره ورسره کوم میچانې نه وي، نو دغسې کسان چې څه لیکي، هغه به هرومرو بې مزې، بې خونده او د پښتو له خپل رنګ څخه ډیر لیرې وي.

په اوسني وخت کې د فارسي کمزورو ترجمو د پښتو د لیک ډول په مانۍ کې یوه ګډوډي پیښه کړې ده.

د مثال په ډول: په یوه اخبار کې ( بمباری یا ینقطع) په (نه شلیدونکې بمبارۍ) ترجمه شوې وه، په دې ترجمه کې د پښتو رنګ څه

چې د پښتو بوی هم نشته.

داسې پښتو په زرو پېرېو کې هم چا نه ده ویلې، نو ځکه دې پلو ته پوره پاملرنه او د پښتو په لیک دول باندې لورینه په کار ده. اوس په اخبارونو کې له ښې او خوږې پښتو نه کړکیچو پښتو ډېره شوې ده.

په تیره کوم اخباری نیمګړې سبک چې منځ ته راوتلې دی، د پښتو له رنګ څخه دومره لیرې وتې دی، چې پښتو ویل هم ورته ګران ښکاری.

البته کیدای شی، چې د پښتو سره مشابه یو شی ورته وواېو، د خان عبدالصمد خان اڅکزی زړه هم له د غسې پښتو څخه سوری دی او پښتنو لیکوالو ته وایی څه چې تاسې لیکئ، پښتو نه ده.

د دې خبرې یو علت د لیکونکو تن اسانی، بې پروایی او بې دردی ده او بل سبب یې د پوهې او مطالعې کمزوری او د معلوماتو نیمګړتیا ده. که چیرې نوی لیکونکی دغه دواړه کمزوری له ځانه لیرې کړی او پښتو ته د یو مسلک په سترګو وګوری او د یو امانت په توګه یې وروزی، نو هغه وخت کیدای شی چې پښتو لیک دول له خرابۍ او ګډوډۍ څخه بچ پاتې شی او په خپل خوږ رنګ او ښایسته بڼه کې د ودې او ترقۍ لوړې څوکې ته وخیژی. د دې مقصد د پوره کولو په لار کې غواړو چې د ښې لیکنې او خوږ لیک په باره کې خپله څیړنه ګرانو لیکوالو ته وړاندې کړو، ترڅو د دوی د لارې بومیا او ملیا شی.

۱- دیوه مضمون د لیکلو لومړی پوړی، د موضوع او مطلب خوښول او غوره کول دی. یعنې د دې لیارې لومړی ګام دادی، چې یو لیکوال د لیکلو د پاره یوه موضوع وټاکی او هغه موضوع او مطلب په

فکر کې ښه واړوی راواړوی ، ولې که چیرې دیو مضمون په شاوخوا کې سړی غور او فکر ونه کړی ، نو بیا دهغو د پاره ښه قالب او چوکاټ پیدا کول، گران دی. بې فکره یو مضمون لیکل داسې مثال لری، لکه چې سړی په سیند کې بې گودره ورگډ یږی.

۲ - د موضوع له خوښولو نه وروسته په کار دی، چې په ټاکلې موضوع کې پوره معلومات راغونډ کړی شی او له باوری مأخذونو څخه پوره مسأله او مواد راټول کړی شی، ځکه چې بې له باوری معلوماتو او کافی موادو څخه یو مضمون لیکل، هسې په وچه ځمکه باندې لامبو وهل دی.

۳ - ښایی چې یو لیکوال خپل مضمون په داسې ډول او رنگ شروع کړی، چې له یوې خوا نه په لوستونکی کې د مضمون دلوستلو شوق او تنده واچوی او له بلې خوا نه په کې په کنایی ډول د مقصد او مطلب پلوشې وځلوی ، یعنې په کار دی، چې مقدمه د مطلب سره ښه ارتباط او مناسبت ولری.

٤ - د مضمون تادو او تمهید باید ډیر پوخ، معقول او زړه راښکونکی وی، مگر ښایی چې مقدمه ډیره اوږده او ستړی کوونکې نه وی، چې اوس وخت کې داوږدو مقدمو لیکلو دود ، له منځه تللی دی. اول څو ک مقدمه نه لیکی او که لیکی یې ، نو ډیره لنډه او بسیطه وی.

۵ - ښایی چې مضمون تر پایه پورې په یوه کچ مچ ولیکل شی، یعنې په زور تل ته ځان ورسوی. د سیلاب او یو په څیر یوه شیبه غورځنگ وهل او بیا پریوتل او تیتیدل ، د یوه لیکوال د کمزوری او بې آبی لویه نښه ده.

۶- د خپل مطلب د ثابتولو د پاره، له تاریخي، منطقي او فلسفي دلیلونو څخه کار اخستل په کار دی. ښایي چې هر استدلال د عقل، منطق، تجربې، طبیعت او فطرت په پخو ستنو کلک ولاړ وي. په تشو ادبي الفاظو او شاعرانه کلمو باندې یعنې یوازې د جذبې، احساس او تخیل په بنیاد باندې دیو مضمون د ماني درول د اومتوب او کمزورۍ نښه ده.

۷- یو لیکوال باید چې د موضوع او مقصد له کرښې څخه د باندې ونه وځي. موضوع پریښودل یا په یوه خبره کې بله راچول یا له موضوع نه ډیر لیرې وتل، د لیکوالۍ په فن کې لویه کمزوري او ګډوي ګڼل کیږي.

۸- ښایي چې د یو پښتون لیکوال فکر، مقصد، تخیّل هر څه پښتني وي، د غه شان په کار دی، چې استعاري او تشبیه ګانې هم د خپل چاپیریال وي، ځکه چې د بل چانه د استعارو استعاره کول، د کمزورتیا لویه نښه ده.

مثلاً: عرب زلفې له ښکرو سره مشابه کوي، مګر په پښتني چاپیریال کې د غه تشبیه هیڅ خوند او ارزښت نه لري.

۹- دیو پاخه لیکوال د پاره د خپلې ژبې ادبي خپلواکي ساتل ډیر ضرور، بلکې لازمي خبره ده. هره ژبه ځانله رنګ او خوند او ادبي جوړښت لري، ځانله خپل سوچه تعبیرونه لري، نو ښایي چې د غه خپل رنګ، بڼه او جوړښت یې په ډیر غور وساتلی شي او د نورو ژبو تر جوغ لاندې رانه وستلی شي.

۱۰- په ښه شان او ښه تعبیر له خپل مضمون څخه یوه نتیجه اخیستل او په ادبي رنګ کې د مضمون بس کول، د ښې لیکنې او پوخ

لیک ډول غوره صفت دی.

۱۱- یو مضمون په داسې وخت کې لیکل په کار دی، چې طبیعت په ټوله معنې تیار وي او فکر او بدن ستړی او ستومانه نه وي، ولې چې په دماغ او فکر باندې بوج اچول او په وچ زور وربانددې یو څه لیکل خامخا کمزوري پیښوي او په زړه پوري مضمون ترې نه جوړیږي. دغه شان په ډیر کړاو او زړه چاودون د اوچتو او ګرانو الفاظو راټولول هم کوم موزون او مناسب کار نه دی. مطلب دا دی چې له خپلې وسې نه زیات زور لګول په لوی لاس ځان ناکامول دي.

۱۲- په یوه لیکنه کې د معنوي ارتباط او تړون خیال ساتل، ډیر مهم کار دی. یعنې ښایي چې په جملو کې د معنوي پیوستون کړۍ ونه شلیږي او د مضمون تسلسل او پر له پسې والې خراب نه شي. غښتلې لیکوال هغه دی، چې د مضمون بیلو بیلو برخو ته پوره ارتباط او پیوستون ورکولای شي.

۱۳- په یوه لیکنه کې درانه خواږه او تللي الفاظ استعمالول د لیک د ښه والي لویه نښه ده او یو ښه لیکوال تل د الفاظو په خوږوالي او تول پسې ګرځي.

۱٤- د هر علم خپل خاص اصطلاحات په خپل خپل ځای راوړل په کار دي. مثلاً:

علت په منطق کې د سبب په معنې او په صرف کې د نقص په معنې دی، نو ځکه یې د استعمال د ځای پیژندل ضرور دي. (۱)

---

(۱) - په دې برخه کې ځینې ټکې د ښاغلي اثر له پښتو ادب (ص-٦٨) څخه اخستل شوي دي.

۱۵- د مفرد په ځای د جمع ضمیر راوړل ، د پښتو له خپل اصلي روح ځخه مخالف کار دی.

مثلاً: د « زه وایم » پر ځای ، « مونږ وایو » ، ښه تعبیر نه دی. دغه شان د « دی » پر ځای د جمع ضمیر « دوی » راوړل هم یو ناوړه استعمال دی. ډیر کسان دا کار د درناوی په نیت کوي، مگر د ژبي له قاموس او چوکاټ ځخه وځي او یوه لویه اشتباه تري پیدا کیږي. مثلاً: که وویل شي چې « دوی تشریف راوړي ؤ » ، نو دا سودا پیدا کیږي، چې یو سړی ؤ که ډیر وو ؟

غرض دا چې د پښتو په ادبي روح کې هم مساوات نغوتی دی او د یوه تن د پاره په کې د جمع ضمیر راوړل ښه نه برېښي.

۱۶- په یوه جمله یا یو عبارت کې د یوې کلمې یا یوه لفظ تکرارول او بیا بیا راوړل ښه صفت نه دی. دغه شان د تورو او اداتو تکرار هم عبارت بې خونده کوي او له ښایست ځخه یې وباسي.

۱۷- ښایي چې په یوه لیکنه کې ښکلې او سپیځلې ، یعنې داسې الفاظ راوړل شي، چې هغه د پوهو لیکوالو له خوا منل شوي وي او په ژبه او لیکنه کې یې خپل ځای بیولی وي ، مگر که څوک په خپله لیکنه کې د کاکه توب « طمطراق » کلمې راوړي، نو دې ته خو مونږ منلي او سپیځلي الفاظ نشو ویلای ، ولې چې د ټولو پوهو لیکوالو په لیکنو کې یې ځای نه دی نیولی.

۱۸- بل د کلمو په خوښولو کې لنډیز او دوینا اسانی ته هم کتل په کار دي ، لکه د « پیړ » کلمه چې له « پریړ » ځخه لنډه او اسانه ده .

دغه شان په « خبره ومنل شوه او خبره ومنله شوه » کې لومړی شکل

غوره دی ، ولې چې لنډ او اسان دی او د تذکیر او تأنیث فرق د مُرکب فعل په دوهم جزء کې په کار دی. په اول جزء کې دغه بیلتون ته هیڅ ضرورت نشته.

**۱۹**- بل د کلمو په خوښولو او راوړلو کې ادبي لهجې ته زیات اهمیت ورکول په کار دی، لکه: «اخیستل» چې ځینې خلک یې «اغستل» بولی، مګر سپیڅلی ادبي لهجه نه ده، یا د «راوړه» په ځای «راواره» او د «جوړوې» په ځای «جیړوی»، ادبي لهجې نه ګڼل کیږی.

**۲۰**- بل عمومي لهجه په یوه محلي لهجه باندې غوره ګڼل په کار دی، لکه: «غاښ، غوښه»، چې ځینې خلک یې «ګاښ، ګوښه» بولی، مګر عمومي لهجه نه ده.

**۲۱**- سپک، بازاری او بې نزاکته الفاظ راوړل دلیکوالی د کمزوری نښه ده. مثلاً که څوک د «خوړلو» پرځای د «نغرلو» کلمه راوړی، نو دا به یو خوندور او مناسب تعبیر نه وی.

دغه شان بې ځایه د «لوڅک او سرکوزی» کلمې راوړل هم درنې او مناسبې کلمې نه بریښی.

**۲۲**- هر لیکونکی چې کومې کلمې لغوی، اصطلاحی، حقیقی او مجازی معناګانې ورته معلومې وی، او د خلکو او قوم، بلکې دهرې سیمې له اصطلاح نه هم پوره خبر وی، ولې که چیرې د کلمو سمې معنې ګانې ورته معلومې نه وی. نو بیا ترې په سم ډول کار نه شي اخستلای.

**۲۳**- درنې، نا اشنا زیږې او شډلې کلمې راوړل، هم د یو لیکوال په کمزوری او بې ذوقی باندې دلالت کوی. مثلاً: د «بسپړ، چوپړ او

پرېږ » کلمې استعمالول په ژبه او عبارت کې سختي او گراني پيدا کوي او يو عبارت له فصاحت څخه باسي.

۲٤– ترڅو چې په يوه ژبه کې خپله کلمه موجوده وي، بايد چې ديلي ژبې کلمې استعمال نه کړی شي. مثلاً: دژوند پر ځای « حيات »، د ترکاڼ پر ځای « نجار »، د برخې پر ځای « سهم » او د « درونډ » پر ځای « سنگين » راوړل ديو ليکوال دبې پروايي او بې فکرۍ نتيجه ده.

۲۵– په دوو عربي کلمو کې دضرورت په وخت هغه کلمې راوړل په کار دي، چې دخلکو په خولو جاري وي او دهغوی غوږونه ورسره آشنا وي. لکه: د « مستفيد شي » پر ځای « فايده واخلي »، د « تصميم » پر ځای « ټينگار » او داسې نور.

۲٦– بنايي چې دنورو ژبو الفاظ دپښتو دقاعدو لاندې راوړی شي. لکه: « عالمانو ويل » ، ځينې کسان چې دغه « و » نه وړ کوي، نو دژبې له قانون راوړل ښه دي.

۲۷– دعربي جمعو پر ځای، پښتو جمعې جوړول غوره دي. لکه: د « دلايلو، اقوامو، علماو ، او صافو » پر ځای « دليلونه، قومونه، عالمان او صفتونه » راوړل ښه دي.

۲۸– بنايي چې دپښتو داصلي گرامر په لياره برابرې جملې جوړې کړی شي، که چېرې د قاعدې او قانون خيال ونه ساتلی شي، نو دا هم په ژبه او عبارتونو کې کمزوري پيدا کوي او خوږ، سپېڅلې عبارت ورته نه ويل کيږي. مثلاً: په « لږ دوډی » ، « اولږه دوډی » کې دوهم شکل غوره دی ، ځکه چې د پښتو له گرامري قانون سره سم دی دغه شان که څوک نارينه دپاره « دې يا هغې وويل » ، استعمال کړي ، نو دا له

قاعدې څخه تيرې کول دي، ښايي چې «ده يا هغه وويل» استعمال کړې شي.

**۲۹**- جملې بايد لنډې لنډې او د خلکو د محاورو او خبرو اترو سره سمې وي. له محاورې نه وتلې جملې جوړول، د پښتو خرابول او د ځان بدنامول دي. ډيرې اوږدې جملې جوړول چې مبتدا او خبر په کې سره ډير لرې وي، په پښتو ليکوالۍ کې يو ستر عيب ګڼل کيږي.

دا سبک اوس په پښتو کې د فارسۍ د ترجمو په وجه راننوتی دی او د پښتو خوندې بيخي له مينځه وړی دی، مګر ډير لنډيز چې مطلب او مقصد ته زيان رسوي، هم ښه صفت نه ګڼل کيږي.

**۳۰**- ښايي چې نوی ليکوال خپل مطلب په لنډو، صافو او څرګندو جلمو کې بيان کړي. د يو ليکوال لوی صفت دادی، چې ډير مطلب او مقصد په لږو الفاظو او لنډو عبارتونو کې څرګند کړي. الفاظ زياتول او عبارتونه اوږدول په مضمون باندې د نه حاکميت نښه ده.

«اخير الکلام ما قل و دل و لم يمل» ښه کلام هغه دی، چې لنډ وي، په مطلب دلالت وکړي او زړه تنګی ترې پيښه نه شي، يعنې غوره او بهتره وينا هغه ده چې لنډه وي، مطلب ترې په ښه شان معلوم شي او لوستونکی يې په ويلو ستړی او ستومانه نشي.

ډيرې ليکنې داسې وي، چې داوږدوالي په وجه په زړه باندې ناوړه اثر کوي او د خوښۍ په ځای، زړه تنګی پيښوي.

په هره ژبه کې متلونه او متالونه څکه ښه او اغيزناک ګڼل کيږي، چې په دغه ګانه ښايسته وي. يعنې په څو کلمو کې يو لوی مطلب بيانوي. لکه د پښتو دا متلونه: «نيک عمل دلارې مل، چې بد ګرځی

بد به پرځي».

۳۱- دعطف توری باید ډیر لږ استعمال شی، تر ډیره حده پورې په معنوی تړون او ارتباط باندې بسیا کیدل په کار دی.

۳۲- څه رنګه چې پښتانه په هر شی کې سادګی خوښوی، ددوی ژوند، ناسته ولاړه، راشه درشه، خوراک، څښاک، پوښاک، هوساک او هر څه ساده او بې تکلّفه دی، نو ځکه ددوی ژبه هم ډیر تکلّف نه خوښوی. کړکیچن عبارت ښه نه ګڼی، بلکې دصاف، ساده او روان عبارت جامه یې په تن او بدن باندې ښه ښکاری په اوسنی وخت کې د پښتو خوندور، بریالی، په زړه پورې لیکوال هغه دی، چې روان، ساده، په محاوره برابر او د اولس د پوهې سره سم وی.

د څوارلسمې پیړۍ په لیکوالو کې احمد جان له دې امله زیات شهرت او نوم پیدا کړی دی، چې دده نثر داولس او خلکو په محاوره برابر، د متلونو او اصطلاحګانو په ګانه ښایسته دی، دده دخپلې خولې روایت دی. دی وایی: ما چې به کله کوم مضمون ولیکه، نو هغه یې مې د کور خلکو یعنې میرمنو او ثورو ته واوراوه. که دوی به پرې پوه شول او خوږ به پرې ولګید، نو هغه به مې ښه وباله او که دوی به پرې پوه نه شول، نو بیا به مې په کې ګوتې ووهلې تر څو چې د دوی په پوهه ذوق او ژبه برابر شو. یو لیکوال باید چې په خپل لیک او وینا کې دخپلې ژبې دمحاورې او رنګ څخه ځان لرې نه کړی او دنورو ژبو په چوکاټ کې ځان ونه چوی، پخوا به خلکو په لوی لاس ګران ګران لغتونه کښل، مګر اوس ګرانه او سخته لیکنه عیب او کمزوری دی.

۳۳- دنویو لیکوالو د پاره تر ډیره وخته پورې د یو استاد لارښوونه

او بیا د مضمون لیدنه کتنه او سمونه هم ډیره لازمي ده، ولې چې بې له استاد او بې لارښودنې څخه څوک هیڅ ځای ته نه شي رسیدای.

۳٤- د مضمون دوهم وار کتنه هم د مضمون د سمون او ښه والي سرد زیات کومک کوي او ښایي چې نوي لیکوال د دې کار سره ځان آشنا کاندي. دا زما د شلو کالو د تجربې خبره ده. که څوک یو مضمون ولیکي، بیا یې یوه هفته یا یوه میاشت په خپل حال همداغسې پریږدي او یوه هفته یا یوه میاشت وروسته یې په خپله دوهم ځل وګوري، نو زیاتې غلطۍ او کمزورۍ ترې وځي او یو چان کړي سپیڅلی مضمون ترې جوړیږي.

۳۵- په پښتو لیکوالۍ کې د لغاتو ډیر والي او د ژبې دارتوالي خیال ساتل په کار دي. یعني وړو وړو د پښتو زړو ادبي لغاتو رواجول که څه هم په محاوره کې نه وي، د ژبې د ادبي پراختیا د پاره یو ستر خدمت ګڼل کیږي. مثلاً: «لرغونې» چې یوه ادبي کلمه ده او په محاوره کې نشته، مګر په لیکلو کې اوس ډیره راځي.

په آخره کې وایم چې ښه لیکنه سمه لیکنه په تیره د پښتو نثر خوږه لیکنه، هغه ده، چې صفا، څرګنده، ساده، روانه، لنډه، سپیڅلې، سوچه، معقوله، په دلیل برابره، درنه او خوږه وي او دا کار ډیر زیار، زحمت، کړاو، پلټنه، معلومات، لارښودنه او زیاته پاملرنه غواړي. دا کار په سرسري ډول یا هسې په توکو ټکالو نه کیږي. په دې باره کې ښه فیصله حمید بابا کړې ده:

څــو د وینو د دریاب مــرجـــونه نشــــي
مـــشـــرف به د دې در په رنها نشـــــي

## د پښتو ترجمې

د پښتو د ترقۍ او د ژوندانه د اړتياو په اساس، ورځ په ورځ، په پښتو کې له نورو ژبو څخه د ترجمو لمن ارتيږي. يوه ژبه هم بې له ترجمو څخه مخ په وړاندې نه شي تلای. پښتو هم هرو مرو ترجمو ته اړتيا لري او په دې وسيله به د پښتو لمن له علمي آثارو څخه ډکيږي. مګر په يوه ژبه کې د نورو ژبو علمي کتابونه او آثار ترجمه کول، ځينې شرطونه هم لري. که چيرې هغه شرطونه برابر نه وي، نو بيا ژبې ته د فايدې په ځای، زيان رسوي. په موجوده وخت کې چې له پارسي څخه په پښتو کې کومې ترجمې کيږي، يقيناً چې ډيرې نيمګړې او بې کاره دي. د دې خبرې وجه دا ده چې دغه ترجمې د داسې کمزورو کسانو په لاس کيږي، چې نه په پښتو سم پوهيږي او نه په پارسي کې پوره مهارت لري.

که چيرې دې پلو ته پوره توجه ونکړای شي، نو د پښتو خپل خوږ ليک ډول به د نيمګړو ترجمو سيلاب په مخه يوسي او بيا به څوک په ښه او بده ترجمه کې توپير نه شي کولای. له دې کبله غواړو چې په دې برخه کې ځينې لارښوونې وکړو:

۱- له هر څه وړومبی په خپله د ترجمه کوونکي زيات زحمت، پوره غور او پاملرنه په کار ده. که څوک په دغه کار کې بې پروايي او تن اساني کوي او د پښتو د ښه والي خيال نه ساتي، نو د هغوی ترجمې به خامخا بې مزې وي.

۲- په هر ځای کې د يو پوخ ليکوال له خوا د ځينو ابتدايي ترجمو کتنه او سمونه هم يوه ضروري خبره ده، ولې چې بې لارښوونې هيڅوک

په خپله کوم ځای ته نه شي رسیدای.

۳- د یو لغت یا یوې کلمې په ترجمه کې له پوهو کسانو څخه پوښتنه په کار ده. په دې برخه کې شرم کول یا سترګې پټول، د وروسته پاتې کیدو لوی سبب دی.

٤- ښایي چې مترجم (ژباړن، اړندوی) په دواړو ژبو کې پوره لاس ولري. که چیرې په ترجمه کیدونکې ژبه باندې ښه ونه پوهیږي، ترجمه یې هرومرو د معنی او مطلب له مخې کمزورې راځي او که چیرې په ترجمه کوونکې ژبه کې پوره بلد نه وي، نو ترجمه یې د عبارت او خوند له مخې بې مزې او پیکه راځي. او دا دواړه خبرې د یوې ترجمې د پاره لوی عیب ګڼل کیږي.

۵- ښه ترجمه او ښه پښتو هغه ده، چې په محاوره برابره او د اولس د پوهې سره سمه وي. له محاورې نه وتلې ترجمه یو بې ارزښته مال بلل کیږي.

٦- لفظ په لفظ او ټکي په ټکي ترجمه کول هم سمه او خوږه نه راځي. په ترجمه کې د بلې ژبې مطلب او معنې د پښتو په خپل کالب او چوکاټ کې اچول په کار دي. لکه چې د مخه مو هم ویلي دي، د پښتو د خپل چوکاټ غوښتنه داده، چې پښتو دې په محاوره برابره وي. د بلې ژبې درانه او شډل لغات دې په کې نه وي، ډیرې اوږدې جملې باید رانه وړې شي، مبتدا او خبر دې یو تر بله نژدې وي. که چیرې یو مطلب په لنډه جمله کې نه بیانیږي، نو بیا د عطف د تورو په واسطه د جملو ترمنځ تړون راوستل په کار دي.

۷- کټ مټ د بلې ژبې په ډول جمله جوړول د ژبې ملا ماتول دي.

مثلاً: که څوک «ضرب زید عمراً» داسې ترجمه کړي «وواهه زید عمر لره» ، نو دا به څومره ناوړه ترجمه وي او که د پښتو په محاوره یې برابره داسې ترجمه کړي «زید عمر وواهه» ، نو خوږه پښتو ژبه ترې جوړه شي.

په پښتو کې د فعلي جملې ډول او بنه داده چې لومړی فاعل بیا مفعول او وروسته فعل راځي ، مگر عربي له دغه ډول څخه چپه رنگ لري ، هلته اول فعل ، بیا فاعل او وروسته مفعول راوړل کیږي ، نو ځکه ټکي په ټکي ترجمه کول ، سمه او روغه نه شي راتلای.

۸- په ترجمه کې بې ضرورته د بلې ژبې لغات راوړل ، هم د ترجمې خوند له منځه بیایي او یو پیکه عبارت ترې جوړوي. لکه د یو اخبار دا عبارت: «د حیات امرار کوی» یا دا چې «فلاني به رخصتي وشلوی» ، دغه دواړه جملې ناسمې او د پښتو په چوکاټ برابرې نه دي.

د رخصتي د شلولو اصطلاح بیخي یو نوی اجتهاد دی، چې تر اوسه په محاوره کې نه دی اوریدل شوی . دغه شان په لومړۍ جمله کې «امرار او حیات» راوړل ، بې ضرورته د بلې ژبې د لغاتو استعمالول دي.

د دغو جملو سم او رسا شکل داسې دی: «ژوند تیروي، فلاني به خپله رخصتي لنډه کړي».

۹- په ترجمه کې کټ مټ د بلې ژبې اصطلاح او تعبیر اخستل، غلط کار دی. مثلاً: که چیرې د پارسي دا جمله: «محمود میخواهد یک زن تعلیم یافته بگیرد» ، په دې ډول ترجمه شي: «محمود غواړي ، چې یوه پوهه ښځه ونیسي» ، نو دا ترجمه بیخي یوه نا موزونه او ناوړه ترجمه کیږي ، ولې چې «نیول» په پښتو کې د ښه پر ځای ، په بد ځای کې استعمالیږي او یو ناوړه تعبیر دی . دغه جمله د پښتو د خپل تعبیر

سره سمه داسې ترجمه کول په کار دی: «محمود غواړي چې يوه پوهه ښځه وکړي». دغه شان د فارسي «قرار معلوم» د معلوم له قراره ترجمه کول، د پارسي او پښتو دواړو خرابول دي.

په دې ډول د پارسي «لب دريا» په پښتو کې د «سيند په غاړه» ترجمه کيږي، که څوک يې د «سيند شونډه» ترجمه کړي، نو څومره ناوړه او کږلې ترجمه به وي.

۱۰- د نومونو او اعلامو ترجمه کول، سهي او سم کار نه دی، ښايي چې نومونه په ترجمه کې په خپل شکل راشي او اصلي رنګ او بڼه يې بدله نشي. مثلاً که څوک «امام نافع» په «ګټور امام» يا «اناتول فرانس» د «فرانس په اناتول» ترجمه کړي، نو دا به د بې ذوقۍ يوه لويه نښه وي.

۱۱- په ترجمه کې د کلمو له تکرار څخه ځان ساتل هم ضرور دي. يوه کلمه بيا بيا راوړل، د ترجمې خوند او مزه له منځه بيايي.

۱۲- له ترجمې د مخه ښايي چې يو مضمون وړومبى وکتلى شي، په دماغ کې ښه ځاى کړى شي او پس له هغه يې په ترجمه کولو لاس پورې کړاى شي.

د ترجمې شرطونه د نورو پښتنو پوهانو په نظريه هم په وروسته ډول دي: (۱)

**(۱)** - له کومې ژبې نه چې ترجمه کيږي، ښايي چې مترجم په هغه ژبه باندې ښه پوه وي او د هغې ژبې محاورې، اصطلاحات او متلونه ورته

---

(۱) - د پيښور د پښتو اکېډمي پښتو مجله اول ټوک، ۲ ګڼه د ښاغلي مولوى محمد اسرائيل مقاله.

---

پوره معلوم وي.

**(۲)**- ښايي چې مترجم د ترجمه کېدونکي کتاب د لیکلو د زمانې په لغاتو او حالاتو او د کتاب د لیکلو په سبب او باعث ښه خبر وي.

**(۳)**- په کوم فن کې چې مترجم ترجمه کوي، ښايي چې د هغه فن په اصطلاحاتو ښه پوه وي او د دغه فن سره پوره خاصه علاقه ولري.

**(٤)** - ښايي چې مترجم د علمي لیاقت خاوند او د پراخې مطالعې څښتن وي.

**(۵)**- ښايي چې مترجم په خپله ژبه کې پوره مهارت او لاس ولري او د خپلې ژبې له محاورو، اصطلاحاتو، متلونو او لغاتو څخه په ښه شان خبر وي.

**(٦)**- د ترجمې ژبه بايد آسانه او روانه وي، چې لوستونکي ترې پوره مطلب واخستلای شي.

**(۷)** - ښايي چې ترجمه په معنې او مفهوم کې له اصل سره سمه وي، يعنې چې نه په کې د اصل مضمون مطلب پاتې وي او نه په کې څه توپير راغلی وي.

**(۸)**- د ښې ترجمې صفت دادې، چې اصل مطلب په کې تول راشي او لوستونکي پرې د ترجمې گومان ونه کړي، بلکې اصلي مضمون يې وبولي.

**(۹)**- په ترجمه کې تر ډيره حده پورې د خپلې ژبې اصطلاحات اخستل، په کار دي.

**(۱۰)**- ښايي چې مترجم د ليکوالۍ په فن کې د پوهې او تجربې خاوند وي او د ژبې له قاعدو او اصولو څخه خبر وي.

# د لیکوالۍ لارښودنې

۱: ښايي يو ليکونکی لومړی يوه داسې موضوع خوښه کړي، چې هم ورسره مينه او علاقه ولري او هم په کې د پوره معلوماتو خاوند وي.

۲: ښايي چې يو مضمون په ښه رنګ شروع او په ښه توګه پای ته ورسيږي.

۳: هر ليکنه د زړه د خوښۍ په وخت کې په کار ده ، ولې چې د غسې ليکنه خوندور او زړه راښکونکې وي.

٤: ښايي چې يو ليکونکی د تولنې له غوښتنې او ذوق سره سمه ليکنه کړي، يوازې د خپل ذوق او خپلې نظريې پيروي کوم ارزښت نه لري .

٥: يو ليکونکی له په کار دي ، ترڅو چې لاس يې رسيږي په خپلو ليکنو کې پردي لغات رانه وړي او خپله ژبه د نورو ژبو د جيغ لاندې رانه ولي.

٦: په کار دي، چې يو ليکونکی ساده او آسانه ليکنه وکړي، چې هر څوک وريانديږي وپوهيږي او خوند ترې واخلي ، يعنې ښايي چې په مناسبو الفاظو او خوږو کلمو ، خپل مطلب بيان کړي او له زياتو عباراتو او مبالغو څخه ځان وساتي.

۷: د کلمو په انتخاب کې ډير فکر او غور او دلوستونکو د پوهې خيال ساتل، په کار دي.

۸: په ليکنه کې د بل چا پيښې کول ، ښه کار نه دي، ښايي چې هر ليکوال په طبيعي ډول خپل مطلب ښکاره کړي. کټ مټ د بل چا د

سبک تقلید ښه نه دی.

ښایي چې د فکر ډول او د بیان طریقه مو خپله وي.

۹: په یوه لیکنه کې سر ترپایه همرنګي په کار ده، یعنې یو عبارت ډیر ادبي لیکل او بل په عادي رنګ لیکل د کمزورۍ او بې تناسبۍ نښه ده.

۱۰: ښایي چې یو لیکونکی د جملو په جوړولو کې له رنګینۍ څخه کار واخلي او ټولې جملې یو شان رانه وړي.

۱۱: یو لیکونکی له په کار دي، چې خپلې لیکنې څخه یوه ښکاره نتیجه واخلي.

۱۲: د یو کتاب او مقالې په لیکنه کې د مأخذونو پوره ښودل، لازمي خبره ده.

۱۳: هر لیکونکی باید خپله لیکنه په دوهم ځل بیا وګوري، تر څو چې د عقل او ادب په چوکاټ برابره شي.

په مسوده کې دوهم ځل فکر کول او هغه سمول، یو ډیر ښه عادت دی. ښایي چې یوه لیکنه څو څو ځله اصلاح کړای شي.

۱۴: مشق او مطالعه د لیکوالۍ د پاره یوه غوره لار ده.

د لومړنی مشق طریقه داده چې د یو اخبار سر مقاله په غور ولولئ، مهم ټکي او ښه مطالب ورنه یادداشت کړئ او بیا هغه په خپل عبارت ولیکئ بیا په کې دوباره غوره وکړئ، چې څومره فرق په کې راغلی دی.

۱۵: دهرې موضوع په باره کې یادداشتونه غونډول او هغه په ښه شان ترتیبول، د مضمون د لیکلو سره ډیره مرسته کوي.

## د لیکوالۍ صفتونه

۱- ښایي چې یوه لکنه د منطق او پوخ استدلال په ستنو ودریږي تشه جذباتي او احساساتي لیکنه کوم ارزښت او قیمت نه لري.
خرابه لیکنه د مغشوش فکر او یا په ژبه کې د نه قدرت نښه ده.

۲- ښایي چې یو لیکونکی له چاپلوسۍ او بې ځایه ستاینې څخه چې د ادب روح وژني، ځان وساتي.

۳- ښایي چې یو لیکونکی د حق او حقیقت په رڼا کې لیکنې وکړي، یعنې په کار دي، چې د حق او رښتیا له چوکاټ څخه ونه وځي او له مبالغې او اغراق څخه ځان وژغوري. دروغجنه او بې حقیقته لیکنه یو بې قیمته کالي دي. کوشش وکړئ چې ستاسو لیکنه رواني، تازګي او طبیعي شکل ولري.

٤- ښایي چې یو لیکونکی په خپله لیکنه کې له نفسي غرضو څخه پاک او د یو اخلاقي متانت او روغ نیت خاوند وي.

۵- ښایي چې یوه لیکنه لنډه، صافه او څرګنده وي. اوږد او کشال عبارت او په شلو پردو کې تاو خبرې، کوم ښه صفت نه ګڼل کیږي.

٦- د غوره لیکنې صفت دا دی چې ټولې کلمې یې سپېڅلې وي او عبارت یې صفا او څرګند وي. نا سپېڅلې کلمې کږکیچن او ګونګ عبارت، یوه لیکنه له غوره والي څخه وباسي. سلاست او رواني لیکنې لوی صفت دی.

۷- د غه شان د حال د غوښتنې سره سم، څه لیکل، د بلاغت یو لوی

صفت دی . که سړی ماشومانو ته د لویو خبرې او لویو ته د ماشومانو خبرې کوی، نو دا د حال سره سمې خبرې نه دی او غوره وینا ورته نشو ویلای.

۸- د لهجې له ډیر صراحت څخه یو مطلب په کنایی ډول ښکاره کول، ډیر غوره دی، ځکه د ویلو ډول باید داسې وی، چې په چا باندې ستوغ ونه لګیږی او نفرت پیدا نه کړی.

۹- د یو ښه عنوان لاندې د خیالاتو او افکارو سم تنظیم او د مطالبو ښه تړون، دلیکوالی یو ښه صفت دی، یعنې په کار دی، چې هر عبارت له اصلی مفکورې سره پوره پوره تناسب ولری او یو فکر په اغیزه ناکو الفاظو کې وښودلی شی.

۱۰- خپله نظریه د یو منلې حقیقت په توګه نه، بلکې د یوې نظریې په ډول وړاندې کول، په کار دی.

«۱»- دلیکلو دغه لارښودنې او صفتونه د پوهانو له نظریو سره برابر دی. «د کابل مجله، ۱۷ کال، ۱۱ ګڼه».

# د لیکوالۍ شرطونه

(۱)- د لیکوالۍ لومړی شرط دژبنی پوهنو لوستل او زده کول دی. هغه ټول علمونه چې دژبې دسمون او ښه والې لارې چارې ښیي، ژبنۍ پوهنې دی. لکه: معاني، بیان، بدیع، صرف، نحو، اشتقاق، لغت، عروض، قافیه.

(۲)- بل شرط د پوهانو او استاذانو د آثارو کتل او پلټل دی. ښایي چې لیکونکی ددې له آثارو څخه تازه او نوی معنې ګانې، غوره ادبی نکتې، تللې او سپېڅلې کلمې چاڼ کاندی او هغه په حافظه کې وساتي، ترڅو چې دضرورت په وخت، ترې کار واخلي.

(۳)- بل شرط د ژبې د لیک ډولونو اساسي کتنه او څېړنه ده. که چیرې یو لیکوال د ژبې نه بیلو بیلو ډولونو څخه خبر نه وي او د لیک جلا جلا ډولونه یې نه وي کتلي، نو هغه دځان د پاره د ښې لیکنې کچ میچ نشي پیدا کولای.

(٤)- اخلاقي شجاعت دلیکوالۍ یو مهم شرط دی. څوک چې دغه صفت نلري، هغه هیڅکله یو ریښتنې حقیقي مضمون نشي لیکلای.

(٥)- دفکر آزادي هم د مضمون په لیکنه کې زیاته اغیزه لري. که چیرې فکر بندي او ترکنټرول لاندې وي، نو په دغسې حال کې دښه مضمون لیکل، ګران او مشکل دی.

(٦)- دښه لیک ښایسته لیک، یعنې دیوې عالي انشاء د پاره ښه

موضوع علمی قدرت، پاک وجدان، روښانه فکر، ښه سلیقه ، غوره الفاظ او ښکلې تعبیرونه په کار دي.

**(۷)-** ښه قریحه او روغ ذوق د ښې لیکنې پوخ تاداو دي، یوازې دقاعدو په پوهیدلو سړی ښه لیکوال کیدای نشي ، مګر کله چې عالي وجدان ، سپیڅلي ذوق او ادبي پوهنې سره یو ځای شي، نو یوه داسې غوره لیکنه منځ ته راځي، چې هغه دحقیقت څرګندوی او د ژوندانه د ښایستو نو ښکارندویه وي.

*****

# دليکوالۍ عيبونه

په عام ډول چې گورو ، نو ټولې ليکنې يو څه عيبونه او زيانونه هم لري. له دغو عيبونو څخه ځان ساتل، ديو ليکوال لومړی فرض دی او که څوک ترې ځان ونه ساتي ، نو وينا او ليکنه به يې عيب جنه او کسرمنه وي. هغه عيبونه دا دي:

۱- په ليکنه کې دچاذاتي عيب ښکاره ول يا ورته اشاره کول ښه نه دي.

۲- عاميانه او بازاري لغات راوړل دښې ليکنې دپاره عيب دي. لکه: لوچک، موزی، چتی او نور.

۳- زيږه شډل او درانه لغات راوړل چې په غوږونو ونه لگي، لکه: په پته دپټو پلټنه، پيرر، چوپړ، بشپړ، ياډکه ډيوه تيل ټول ټال نوی شو.

٤- يو ډير نااشنا لفظ راوړل ، چې څوک پرې نه پوهيږي. لکه: « نوني، دسترگو دپاره.

۵-له قاعدې او قانون څخه مخالفت کول يوه عيب جنه خبره ده، لکه: « چای دې وڅکلې » ، چې فعل يې مؤنث او مفعول يې مذکر دی. او دا د ژبې له قانون څخه مخالفت دی.

٦- ديو لفظ او کلمې تکرار او بيا بيا راوړل.

لکه: سوکارنو په جاگارتا کې په يوه ټولنه کې په يوه وينا کې وويل:

۷- بې موقع او بې وخته يو مطلب بيانول. لکه: په ژمی کې دپسرلي دگلونو صفت او په اوړي کې دژمي د واورو بيان.

۸- په جمله کې دزياتي لفظ او په کلمه کې دزياتو تورو راوړل عيب دي، لکه: دځملاستل په ځای، ځملاستيدل، يامثلاً: د آب حيات د اوبو چينه؟

۹- داضافتونو ډيروالې ، لکه: دځلمی د واده دشپې د ډوډۍ دغوړو خوند خراب ؤ.

# د لیکلو دماغي قوتونه

لیکوالي په اصل کې د دماغي او ذهني قوتونو د ځرګندولو نوم دی.
په لیکوالۍ کې د دماغ له ټولو غریزي قوتونو څخه کار اخستل کیږي او د غه ټول په کار لوېږي. د دماغ او عقل غریزي قوتونه دا دي:

**الف - فکر:** یوه داسې قوه ده، چې ذهن ې په واسطه سړی ډیر ژر د یو شي تل ته رسیدای او په ماهیت یې پوهیدای شي. ددې قوې په واسطه د شیانو حقیقت څرګندیږي او د علومو او معانیو ادراک کیږي.

**ب - خیال:** یوه پټه دماغي قوه ده، چې نوې نا آشنا څیرې او معنې ګانې راپیدا کوي او دلیدلو شیانو انځورونه هم ساتي.
دا قوه د لیک او شاعرۍ په فن کې ډیر اهمیت لري.

**ج - حافظه «ساتونې»:** دا یوه داسې دماغي قوه ده، چې هر ډول معاني او پوهنې چې د فکر په واسطه مغزو ته راشي، ساتي او خوندي کوي او بیا یې د ضرورت په وخت کې ورپه زړه کوي، نو ځکه «یادونې» هم ورته ویلای شي. دا قوه په لیکوالۍ کې ډیر کومک کوي او سړي ته د لیک پور مواد ور یادوي.

**د - ابتکار:** دا هم یوه قوه ده، چې ذهن ې په واسطه، سړی نوی مطالب او تازه نکتې پیدا کوي. کله چې فکر او خیال دواړه په کار ولوېږي، نو د ابتکار قوه منځ ته راځي.

# لیک ډول یا سبک

سبک یا لیک ډول د افکارو دبیانولو یو خاص ډول ته وایی، یعنې د تعبیر او بیان ډول او طریقه. لیک ډول پر دوو شیانو شامل دی: یو فکر او معنې او بل صورت او شکل دلیکلو ډول دزمانې په لحاظ هم بدلیږی او دلیکوالو په اعتبار هم توپیر پیدا کوی. هره زمانه یا هره دوره یو ځانله لیک ډول لری. مثلاً : دخیر البیان او مخزن الاسلام لیک ډول یو شان او د دستار نامې او تاریخ مرصع بل شان دی، هغه یو قافیه وال، وزن وال او دغه بل ساده او آزاد دی. دلیکوالو په لحاظ هم په سبک کې توپیر راځی. مثلاً: دخوشحال خان نثر ځانله ډول لری او د افضل خان ځانله . که څه هم دواړه په یوه دوره کې دی، په لومړی سر کې ټولې لیکنې په ساده او رنګین لیک ډول ویشل کیږی.

ولې چې په یوه موضوع کې هم ساده لیکنه کیدای شي او هم رنګینه. په ساده لیکنه کې استعارې ، تشبیهات ، رنګینی او ادبی کلمې لږې وی او په رنګین نثر کې ډیرې وی . ساده نثر دخلکو په ژبه وی او رنګین نثر په ادبی نکتو شایسته او د ادبیاتو په ژبه وی. د یو سبک لیک ډول په ټاکلو کې دوې خواوې په نظر کې نیول کیږی: یوه معنوی خوا او بله لفظی خوا .

په معنوی خوا کې موضوع، مطلب ، داستعارو او تشبیه ګانو ډولونه او

نور شاملیږي او په لفظي حوا کې د کلماتو او الفاظو رنګینی د جملو او عبارتونو اوږدوالي ، لنډوالي او داسې نور داخلیږي.

څرنګه چې د لیکوالو په خوی بوی، عادت او نورو شیانو کې توپیر شته، نو دغسې یې د لیکلو په ډول کې هم فرق موجود دی او دا یو طبیعي خبره ده. مګر هر لیکوال یا هر لیکونکی که څه هم سبک یې له بل نه جلا وي ، د لیک ډول خاوند نه ګڼلی کیږي. په لیک ډول کې ځینې څرګند ، پاخه او قوي اساسونه په نظر کې نیول کیږي او د هغو له مخې د یو سبک چوکاټ له بل څخه بیلیږي . دغه اساسونه د پیاوړو لیکوالو په لیکنو کې موندل کیدای شي. مثلاً : په شعري سبک کې مونږ کولای شو چې د رحمان بابا ، خوشحال خان او حمید بابا سبکونه سره بیل کړو او هر یو ته ځانله چوکاټ وټاکو.

ځکه چې د دوی په اشعارو کې ځینې داسې پاخه شیان شته ، چې یو خپلواکی رنګ لري او له یو بل څخه یې جلا کوي.

که په لنډ ډول ووایو ، نو د خوشحال خان په سبک کې ملي، قومي او حماسي افکار زیات دي . دده د شاعرۍ لمن ډیره لویه ده. ده د ژوندانه په پوره خواو کې د فکر نیلي زغلولي دي، مګر د رحمان بابا په شاعرۍ کې د تصوف، ګوښه ګیرۍ او قناعت افکار ډیر دي. د ې ژوند د جګړې ډګر نه، بلکې د خیر او ښیګنې یو باغ و بڼ یې ګڼي.

د حمید په سبک کې دغه دواړه رنګونه لیدل کیږي . کله صوفي او په دنیا نه یې زړه توری شي او کله په ټولنه کې له خلکو سره ځان ورګډ کړي او د ژوندانه د سمون د پاره نیغ په نیغه ملا وتړي.

په ظاهری لحاظ په حمید کې نازکخیالي ډېره ده. په رحمان کې جذب، راښکون، اغیز او خوږوالې ډیر دی او په خوشحال کې مستي، نشاط او تازګي زیاته ده.

دغه شان په نثر کې ځانله سبکونه شته دی.

هره دوره یو ځانله لیک ډول لري او هر پیاوړی لیکوال هم د یو ګوښې سبک خاوند ګڼل کیږي. مثلاً: دسلیمان ماکو دنثر سبک، دمیا روښان او خوشحال له سبک نه بیل او جلا دی.

منشي احمد خان دځانله سبک خاوند دی. دغه شان نور هم واخلئ، دغه هر یو سبک ځانله جلا، جلا معنوي او لفظي خاصیتونه لري او په دغه وجه له یو بل نه بیلیږي.

له دې کبله په کار دی، چې نوي لیکوال دهرې دورې دسبکونو پوره مطالعه وکړي او دهغو په ښیګڼو او صفتونو باندې ځان پوه کړي، ترڅو چې پخپله هم دښه سبک خاوندان شي!

## د لیک معنوي ډولونه

د معنې او موضوعاتو په لحاظ د لیکنې قسمونه او ډولونه ډیر دي چې مونږ یې دلته په لنډ ډول ښودل غواړو.

تــاریــخــي: په تاریخ لیکنه کې د تیرې زمانې د پیښو واقعاتو او دهغو د سببونو او علتونو څیړنه کیږي. تاریخي لیکنه دهغه چا کار دی، چې د تاریخ په علم کې پوره معلومات ولري او په تاریخ کې د یو ژور او پلټونکي نظر خاوند وي. تاریخ یو روایت دی، مگر له روایت سره درایت ملگری کول په دغه فن کې د پوهې او مهارت لویه نښه ده. په تاریخي لیکنه کې باوري سندونه غونډول ډیر ارزښت لري. دغه شان ښایي چې د تاریخ پوهاند په یوه موضوع کې مخالفې او موافقې نظریې دواړه را غونډې کړي او بیا دهغو ت منځ یو پوخ قضاوت او دریمگړتوب وکړي.

په کار دی چې دا قضاوت د منطق، تاریخ او فلسفې په بُنیاد ولاړ وي.

مذهبي: مذهبي لیکنې د دیني احساس له کبله منځ ته راځي.

په دې لیکنه کې د مذهبي او دیني علومو پوره پوهه لازمه ده. څوک چې په علمي ډول په مذهبي چارو کې برخه و نه لري، دهغه مذهبي لیکنې به پخې او سمې نه وي، تصوفي لیکنې هم په دغه برخه کې راتلای شي مگر په تصوفي لیکنو کې د تصوف له ټولو پړاوونو څخه خبریدل او په

خپله دهغو عملي کول، اساسي شرط دی. څوک چې عملاً د صوفیانو په ولکه کې داخل نشي، هغه د تصوف په دنیا کې قوي او پخه لیکنه نشي کولای.

عشقي: دا ډول لیکنې د مینې او محبت له اوره پیدا کیږي. په دې لیکنه کې د احساساتو او جذباتو څپې غورځنګونه وهي.

دلته هم که سړی په خپله د مینې او سوز خاوند نه وي، نو د عشق اغیزناکه لیکنه نشي کولای.

ادبي: هغه رنګینې شاعرانه لیکنې دي، چې یو خوندور خیال په کې په خوږو بللو او سپېڅلو الفاظو کې څرګند شي، ادبي لیکنې دادبي ذوق، خیال او ادبي قوت په زور لیکل کیږي.

په ادبي لیکنه کې کله کله یو عالي هدف په ډیرو پردو کې نغښتی وي، ادبي لیکنه د ذوق او شوق دخړوبولو یوه ښکلې وسیله ده.

په ادبي لیکنه کې د پټو جذباتو تفسیر او د ښکاره رنګینو تصویر دواړه کیدای شي.

د ظاهري منظرو، نندارو رسم کول او ښودل هم په ادبي برخه کې حسابیږي.

علمي: علمي لیکنې د پوهې او علم په قوت سر ته رسیدلای شي. هره علمي لیکنه ځانله علمي اصطلاحات لري او ښایي چې دخپلو اصطلاحاتو په چوکاټ کې د ننه ولیکل شي.

په علمي لیکنو کې ریاضي، هندسه، کیمیا او داسې نور شاملیږي. په علمي لیکنو کې دالفاظو رنګینی ته هیڅ ضرورت نشته، بلکې په

عبارت د مطلب څرګندول په کې لوی صفت دی.

**سیاسي:** په سیاسي لیکنو کې د سیاست د علم پوهنه ضروره ده. دا لیکنه د هرچا کار نه دی، یوازې هغه کسان د دې لیکنې حق لري، چې د ژور فکر، پوره بصیرت او تجربې خاوند وي.

**اخلاقي:** اخلاقي لیکنې د ټولنې په اخلاقو ګډ ژواک خپل منځي ژوندون او نورو شیانو غږیږي. په دې لیکنو کې د اخلاقو په ګانه ځان ښایسته کول ضرور دي.

**قصصي:** دا ډول لیکنې په هره ژبه کې زیاته برخه لري. په دې کې اوږدې قصې او لنډې قصې د واړه شاملې دي، ناولونه، ناولګوټي هم په کې راځي.

د قصو او ناولونو لیکل ډیر ادبي قوت غواړي. په قصه کې تر پایه پورې یوه موضوع څیړل کیږي، مګر په ناول کې نور پارچونه هم راتلای شي.

**ډرامه:** ډرامه هم د یوې قصې شکل لري، مګر د تمثیل او عملي کیدو خوا په کې زیاته ده. یعني یوه قصه په کې په عملي صورت ښودل کیږي.

**انتقادي:** په دې لیکنه کې د ټولنې بدو رواجونو، ناوړو خویونو او عادتونو ته ګوته نیول کیږي او د سمون او اصلاح په غرض وړاندې اعتراضونه کیږي. په دې قسم لیکنه کې پوهه، علم، بې غرضي او پاک نیتي شرط ده.

**ستاینې او غندنې:** په دې راز لیکنو کې ښه او بد احساسات څرګندیږي او همیشه د خاصو جذبو په اثر کې لیکل کیږی . په دغسې لیکنو کې اندازه ساتل ، لوی صفت او زیاتی کول ، لوی عیب دی.

**ظرافت:** د ساعت تیری او خوش طبعی لیکنې دی. د دې راز لیکنو عبارت څه قدر عامیانه او خندوونکی دی.

**ویر لیکونه:** د غم او ناورین په وخت کې لیکل کیږی . په دې کې د غم او ماتم ښه رسم کول ، پوره کمال دی. (دوتری لیکونه) درسمی چارو د چلولو دپاره لیکل کیږی. په دې کې خپلمنځی لیکونه ، دحساب کتاب معاملې ،اداری چارې او نور شاملیږی.

په دې لیکنو کې لنډیز ، سادګی او اسانی لوی صفت او اوږدوالې ، ګرانی او سختی غټ عیب دی.

دغه ټول ډولونه او قسمونه بیا هر یو ځانله د لیکنو شرطونه او لارې چارې لری ، چې دهغو بیانول ، ډیر وخت غواړی او مونږ په دې لنډه یادونه کې ورځنې تیریږو !

# لیکونه او وختونه

په لومړي سر کې ټول لیکونه پر دوه ډول دي: یو رسمي او سرکاري لیکونه او بل شخصي او خپلمنځي لیکونه، هرڅوک په ژوندانه کې اړ دي چې یو بل ته ضروري لیکونه واستوي. ضروري او دوستانه لیکونه یا په بله ژبه خپلمنځي لیکونه عموماً په دري برخو ویشل کیږي:

**الف:** هغه لیکونه چې مشرانو او لویانو ته لیکل کیږي.

**ب:** هغه لیکونه چې دوستانو، ملګرو او اشنایانو ته لیکل کیږي.

**ج:** هغه لیکونه چې کشرانو او کوچنیانو ته لیکل کیږي.

سرکاري او رسمي لیکونه هم دغه ډول دري درجې لري:

۱- هغه دي، چې یو لوړ مقام ته لیکل کیږي.

۲- هغه دي، چې په رتبه او حیثیت کې مساوي ځایو ته لیکل کیږي

۳- هغه دي، چې تر لاس لاندې ځایو او دایرو ته لیکل کیږي.

دغه ټول لیکونه په عمومي توګه ځینې شرطونه او صفتونه لري، چې په وروسته کرښو کې ښودل کیږي:

(۱)- ښایي چې په لیک کې د هر چا مقام او حیثیت ته وکتل شي او دهغه دشان او حال سره سم خط ورته لیکل شي. مثلاً: یو پوهاند او لیکوال ته په ادبي او علمي الفاظو او یو نالوستي سړي ته په ساده او آسانو الفاظو خط لیکل په کار دي.

**(۲)**- کوم القاب چې د مشرانو د پاره لیکل کیږي، هغه د ملګرو او کشرانو د پاره راوړل ښه کار نه دي، بلکې د هر چا د پاره د هغه د شأن وړ لقبونه لیکل، په کار دي.

**(۳)**- په خپلمنځي لیکونو کې عبارت اوږدول او بې فایدې خبرې لیکل، یو ناوړه او بې ګټې کار دي. څومره چې یو خط لنډ او بې تکلیفه وي، هغومره خوندور او زړه خوښوونکی وي.

**(٤)**- ټول خپلمنځي لیکونه او خطونه په پوره توجه او غور لیکل په کار دي او ښایي چې د لیک دود، لیک ښود او ژب دود پوره خیال په کې وساتل شي، ولې چې عادي لیکونه هم د لیکوالي یوه برخه ده او له یوه کې خط څخه هم د یو سړي پوهه او ناپوهي معلومیدای شي.

**(٥)**- په هر لیک کې لومړی سرلیک یا لقب بیا وروسته مطلب او مقصد او په پای کې نیټه او لاسلیک او د لیږونکي پته لیکل کیږي.

**(٦)**- په سرلیک او لقبونو کې لنډیز یو ښه صفت دی، ولې چې اوس خلک اوږده لقبونه او سرلیکونه، نه خوښوي.

**(۷)**- صفا او روښانه خط لیکل هم د یو لیکونکي ښه صفت ګڼل کیږي، خراب او ګډوډ خط لیکل، لوستونکي ته ډیر تکلیف پیښوي.

شخصي او خپلمنځي لیکونه:

**الف**- مشرانو او لویانو ته چې کوم سرلیکونه او لقبونه لیکل کیږي، په دې ډول دي:

**پلارته:** زما مهربانه پلاره! زما خواخوږیه پلاره! محترمه پلاره! خدای دې ستا سیورې زما له سره نه اخلي.

**مورته:** زما مهربانې مورى! زما خوږې ، زړه سواندې مورې!

**استاذ ته:** زما محترمه مهربانه استاذه! خداى دې په عزت لره. لويه استاذه، خداى دې ستا دبركت سيورې زمونږ په سر همیشه لرى.

**وزير ته:** دپوهنې پوه او پياوړې وزير ، عزت دې زيات شه!

**اديب او ليكوال ته:** پوه او پياوړې اديب، دفضل او پوهې خاوند، پوه او پياوړې ليكوال، په عزت او خوشحاله اوسى!

**مشر ورور ته:** زما مهربانه مشره وروره، گران او مهربان لالا، لوړ او سرلوړى اوسې!

**مشرې خورته :** زما مهربانې او مشرې خورې، خداى دې حيا او پرده وساته، زما خوږې او درنې خورې!

**ب:** دوستانو او ملگرو ته چې كوم لقبونه ليكل كيږى په لاندې ډول دى:

**دوست او اشنا ته:** زما گرانه او خوږه آشنا ، زما گرانه وروره!

PROPERTY OF ACKU 11325

********
******
****
*

# Pashto Grammar


**الازهر خپرندویه مؤسسه**

پته: ډهکي نعلبندي، قصه خواني، پیښور – پاکستان

E-mail: alazharco@hotmail.com

Tele: +92-91-2564414